د افغانستان اسلامي جمهوریت
د اقتصاد وزارت

# لغمان ولایتي پروفایل

اقتصادي او ټولنیزې پراختیا ته یوه کتنه



د لغمان ولایت د اقتصاد ریاست
وری ۱۳۹۸



# دمطالبو لیکلړ

سریزه...... ۱
مننلیک ...... ۲
د والي پیغام ...... ۳
لنډیز ...... ٤
میتودولوژي(د جوړولو طریقه): ...... ٥
ددې سند پیژندنه: ...... ٦
**لومړی څپرکی ...... ۷**
دولایت پیژندنه: ...... ۷
۱. ولایت دتاریخ په هنداره کې: ...... ۷
۲. دنوم اینښودلو وجه: ...... ۸
۳. جغرافیایي موقعیت اوموسم ...... ۱۰
**دوهم څپرکی ...... ۱٤**
د ولایت د ټولیز وضعیت ارزونه: ...... ۱٤
۱- د دروغتیا د سکټور د اوسني وضعیت ارزونه: ...... ۱٤
لغمان پوهنتون: ...... ۱۹
د پوهنتون ریاست اوسنی حالت : ...... ۲۰
د کرنې او کلیو پراختیا د سکټور د اوسني وضعیت ارزونه: ...... ۲۳
په لغمان ولایت کې جبه زارې ځمکې: ...... ۲٤
په لغمان ولایت کې للمې اوکمې اوبه لرونکې ځمکې : ...... ۲٥
په لغمان ولایت کې کافي اوبه لرونکې ځمکې : ...... ۲٥
د غلو دانو کرنه: ...... ۲٥
د سبزیجاتو کرنه: ...... ۲٥
په لغمان ولایت کې بڼوالي: ...... ۲٥
طبیعي ځنګلونه: ...... ۲٦
دمالدارۍ سکتور: ...... ۲٦
سیندونه او اوبه لګونه : ...... ۲۸
د اقتصاد د سکټور د اوسني وضعیت ارزونه: ...... ۳۰
حکومتوالي: ...... ۳۱
امنیتي سکټور: ...... ۳٤

## دریم څپرکی ........................................................................................................ ۳٦

معارف: ................................................................................................................ ۳٦

*بودجه معارف:* ..................................................................................................... ۳٦

*زراعت:* .............................................................................................................. ۳۷

*بودجه:* ................................................................................................................ ۳۷

*تحصیلات عالی* ...................................................................................................... ۳۹

*بودجه تحصیلات عالی* ............................................................................................. ۳۹

*صحت عامه* .......................................................................................................... ٤٠

*بودجه بخش صحت* .................................................................................................. ٤٠

*انرژی و آب* .......................................................................................................... ٤١

*بودجه* .................................................................................................................. ٤١

*فواید عامه* ............................................................................................................ ٤٢

*بودجه:* ................................................................................................................ ٤٢

## څلورم څپرکي ...................................................................................................... ٤۷

ټولنیز جوړښتونه او د جنسیت یا جندر تحلیل: ........................................................................ ٤۷

سیاسي حزبونه: ........................................................................................................ ٤۸

مدني بنسټونه : ........................................................................................................ ۵٠

ټولنیز خوندیتوب: ..................................................................................................... ۵۹

طبیعی پیښوته رسیدنه: ............................................................................................... ٦١

د نا دولتي موسسو فعالیتونه : ........................................................................................ ٦١

## پنځم څپرکي ....................................................................................................... ٦۳

دلغمان ولایت داقتصادی ودی دپاره پرمختیای طرحی ............................................................... ٦۳

هدف اساسی طرح : ................................................................................................... ٦۳

## شپږم څپرکي ....................................................................................................... ٦۵

دافغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ اود لومړیتوبونو پر بنسټ ملي پروګرامونه (ANPDF/ NPPS) ........ ٦۵

دافغانستان د سولې او پرمختیا دملي چوکاټ لید: ...................................................................... ٦۵

د افغانستان جغرافیایي-اقتصادي (جیواکانومیک) موقعیت ......................................................... ٦۵

د ملي یوالي حکومت ................................................................................................... ٦٦

سیاسي او امنیتي لرلید: ................................................................................................ ٦٦

اقتصادي لرلید: ........................................................................................................ ٦۷

۱. دخصوصي سکټور د پراختیا پروګرام ............................................................................ ٦۷

۲. د ولسي ترون پروګرام ............................................................................................. ٦۹

۳. د اغیزمنې حکومتولۍ پروګرام ..................................................................................... ۷٠

الف) د عامه سکټور سمون ........................................................ ۷۰
*د یوې اغیزمنې او ځواب ویونکې ملکي اداري رامنځته کول* ........................................................ *۷۰*
ب) د اداري فساد د ریښو ایستل: ........................................................ ۷۱
ج) د سیمه ایزي حکومتولی پیاوړتیا ........................................................ ۷۱
د) نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه ........................................................ ۷۲
۴. دعدلي سکټور د رغولوپروګرام ........................................................ ۷۲
عدالت ته دټولو افغانانو لاسرسی: ........................................................ ۷۲
۵. دکرنې د پراختیا هر اړخیز پروګرام........................................................ ۷۳
د کاري زمینې رامنځته کول، د حاصلاتو زیاتول او کروندګرو لپاره د بازارونو پرانستل:........................................................ ۷۳
۷. دښاري پراختیا پروګرام ........................................................ ۷۴
۸. د انرژۍ پروګرام........................................................ ۷۵
د زیربیناوو او انرژۍ د پراختیا لپاره د ملي لومړیتوب پروګرام ........................................................ ۷۵
۹. دکانونو او طبیعي سرچینودپراختیا ملي پروګرام: ........................................................ ۷۶
د غوره اقتصاد لپاره د استخراجي سکټور پیاوړي کول ........................................................ ۷۶
۱۰. د بشري سرچینو د پراختیا پروګرام........................................................ ۷۷
۱۱. د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام ........................................................ ۷۸
افغانستان د جندر یا جنسیت تګلاره : ........................................................ ۷۸

## اووم څپرکي : ........................................................ ۷۹

ګزیده شاخص های احصائیوی به سطح ملی : ........................................................ ۷۹
سروی وضعیت زنده ګی در افغانستان : ........................................................ ۱۰۰
سروی وضعیت زنده ګی به سطح ملی : ........................................................ ۱۰۰
وضعیت زنده ګی مردم ولایت لغمان به اساس سروی ALCS-۲۰۱۷ : ........................................................ ۱۰۲

## اتم څپرکی ........................................................ ۱۰۳

د SDGS د بنسټیزو پراختیایي موخو لنډه پېژندنه ........................................................ ۱۰۳
د بنسټیز انکشاف د موخو لرلید SDGS: ........................................................ ۱۰۳
په سمبولیک ډول د اولسو موخو ........................................................ ۱۰۴
د افغانستان لپاره بنسټېزې پراختیایي موخې A-SDGS: ........................................................ ۱۰۴
د افغانستان لپاره د بنسټزو پراختیایي موخو اهمیت A-SDGS: ........................................................ ۱۰۴
د افغانستان لپاره د بنسټیزو پراختیایي موخو د تطبیق مرحلې A-SDGS: ........................................................ ۱۰۵
په افغانستان کې د بنسټیزو پراختیایي موخو ټارګېټونه او شاخصونه : ........................................................ ۱۰۶
سرچینې او مأخذونه ........................................................ ۱۲۹

# لنډیزونه:

MoEc د اقتصاد وزارت

CSO دمدني ټولنې بنسټ

DDA دولسوالی د پراختیا ټولنه/مجتمع

GDDC د طرحی او توحید عمومي ریاست

DGO دولسوالی د مقام دفتر

ISLA د سیمه ییزواداارو د پیاوړتیا نوښت

IDLG د سیمه ییزو ارګانونوخپلواکه اداره

INGO نړیواله نا دولتی موسسه (بنسټ)

LoGo ځايي حکومتولي (هغه پروژه چې د ملګروملتو د پرمختیایي پروګرام-UNDP له خواپلي کېږي)

M&E نظارت او ارزونه

MoF دمالیي وزارت

MoWA دښځودچارو وزارت

PAP کلنی ولایتي پلان

PBP دولایتي بودیجې پالیسي

PC ولایتي شورا

PCM د ولایتي شوراغړي

PCO د ولایتي شورا دفتر

PDC ولایتي پرمختیایي کمیټه

PDPG دولایتي پرمختیایي پلان جوړونې لارښود

PGO دولایت د مقام دفتر

PSP ولایتي کړنلاریز (ستراتیژیک) پلان

DoEc د ولایت د اقتصاد ریاست

PIMS دولایتي مالوماتو د مدیریت سیستم

PTC ولایتي تخنیکي کمیټه

PPFMC دعامه شمیرنودمدیریت ولایتی کمیټه

PSTC دولایتي سکټور تخنیکي کمیټه

PLMD داړوند وزارت ولایتي ریاست

PPP دولایتي پرمختیا د پلان جوړونې پالیسي

TC تخنیکي کمیټه

USAID د امریکا نړیواله پرمختیایی اداره

WB نړیوال بانک

UNDP دملګروملتونو پرمختیایي پروګرام

# سریزه



په دې کې هيڅ شک نشته چې افغانستان د انساني، فرهنګي، ټولنيزو او اقتصادي سرچينو ساتنې او پراختيا ته اړتيا لري تر څو وکړای شي د پراختيا بهير د هغه پر بنسټ عيار او همغږی کړي. د دې بهير د اړينو مسئلو له ډلې څخه د سوداګرۍ، ټرانزيټ، صنعت، لاسي صنايعو، داخلي توليداتو او په علمي او تخصصي شتمنۍ باندې سمبال انساني ځواک او شته پرمختيايي سرچينې دي چې د کرنيزو محصولاتو او نورو اقتصادي بل القوه پوټېنشيلونو د ودې او پرمختيا لپاره لاره هواروي.

ښکاره خبره ده، په هره اندازه چې ښه پلان جوړونه وشي او ښه لاربښودونه برابر شي نو په هماغه اندازه به د ودې او پراختيا بهير په منظمه او ښه توګه پر مخ ولاړ شي او ټولنه به د هوساينې او پرمختګ په لوري ولېږدوي.

په داسې حالاتو کې د مالوماتي ټولګې يا ولايتي پروفايل شتون، د بشري ټولنې په بېلابيلو برخو په تيره بيا د پلان جوړونې او پاليسي جوړونې په برخو کې خورا مهم او اړين ګڼل کيږي.

د اقتصاد وزارت وياړي چې د هيواد په کچه د يو ريښتيني بنسټ د ټاکلو په موخه او د ولايتونو د شته حالاتو په تړاو کره مالوماتو ته د لاسرسی په برخه کې اسانتيا برابره کړي او د پلان جوړونکو، څيړونکو، دولتي ادارو، مرسته کونکوو مؤسسو، خيريه بنسټونو، زده کوونکو او ليکوالانو لپاره ولايتي پرمختيايي او اقتصادي معلوماتي ټولګه(پروفايل) جوړ کړي. دغه پروفايل د تخنيکي کميټې له خوا چې مرکزي او ولايتي مسلکي کارکوونکو په کې ګډون درلود او د دولتي ادارو، نادولتي مؤسساتو، ځوانانو، د پوهنتونونو د ښوونکو، غوره کسانو، پوهانو، مدني ټولنې او نورو اړونده مرکزي او ولايتي نهادونو په مرسته او همکارۍ جوړ شوی او د افغانستان د خلکو خدمت ته وړاندې کيږي.

ياد پروفايل تر ډيره بريده پر عامه هوساينې او د اقتصادي او ټولنيز حالت پر څرنګوالي، تاريخي قدامت، د پرمختيايي سکټورونو د حالت پر ارزونې، زيربنا او نورو مهمو پرمختيايي مسايلو باندې تمرکز لري او په ټوليز ډول سره د ولايتونو اقتصادي او ټولنيز ليرليد لکه اقتصادي او ټولنيز ظرفيتونه، د اقتصادي ودې او پرمختيا په وړاندې ننګونې، د اقتصادي هوساينې او اقتصادي حالت د ښه والي په برخه کې شته فرصتونه مطالعه کوي او ارزوي.

ولايتي پرمختيايي او اقتصادي مالوماتي ټولګه(پروفايل) مرسته کوي تر څو بوديجوي نهادونه، د پرمختيايي پلان جوړونې بهير د ولايت د اقتصادي او ټولنيزو اړتياوو او لومړيتوبونو پر بنسټ تنظيم کړي او د نړيوالې ټولنې مالي مرستې د ولايت له اړتياوو او لومړيتوبونو سره همغږي کړي تر څو د ولايت په کچه د عامه هوساينې د سمون لپاره لاره هواره شي.

زه له دې فرصت څخه په ګټه اخيستنې د ولايتي پروفايل جوړولو د کميټې له غړو څخه په ځانګړې توګه مننه کوم او د نورو دولتي ادارو او مدني ټولنې نهادونو د کارکوونکو، کارپوهانو او ټولو هغه کارکوونکو هڅو او زيار ته د قدر په سترګه ګورم چې په دې کار کې ښکيل اوو.

**ډاکټر مصطفی مستور**
**د اقتصاد وزير**

# مننلیک



خوښ یم چې نن د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا د پلان جوړونې په برخه کې د یو بل ستر ګام شاهد یم. دغه لاسته راوړنه چې د ولایتي پرمختیایي او اقتصادي مالوماتي ټولګې(پروفایل) جوړول دی ، له شکه پرته د ولایتونو په کچه د یو ټولیز لارښود او مالوماتي سرچینې په توګه، د پانګه والو او تمویلونکو نهادونو د جلبولو له لارې د اقتصادي او ټولنیزې ودې او پرمختیا لپاره لاره هواروي.

دغه پروفایل کولای شي د ولایت د ماضي او راتلونکي په هکله یو ریښتینی انځور وړاندې کړي او په اغیزمن ډول سره، د دقیقې پلان جوړونې او پانګونې لپاره لاره هواره کړي. د ولایتونو پروفایل د ولایت د شته پرمختیایي حالت تر څېړنو او ارزونو وروسته له دولتي ادارو، ولایتي شوراګانو، د مدني ټولنې نهادونو، کارپوهانو، ښځو، د پوهنتونونو د ښوونکو سره په مشوره کې جوړ شوی دی. باید اعتراف وکړو چې د یو تخنیکي او مسلکي ټیم په نه شتون کې، د داسې یو پروفایل جوړول ګران او حتی ناشونی وو. له همدې امله، د ولایتي پروفایل جوړولو په موخه یوه تخنیکي کمیټه جوړه شوه چې د طرحې او توحید لوی ریاست د ولایتي چارو تخنیکي کارکوونکو په کې ګډون کړی وو او د سیمه ییزو ادارو د پیاوړتیا نووښت(ISLA) پروژې د سلاکارانو په همکارۍ او د طرحې او توحید لوی ریاست تر مشرۍ لاندې تر سره شو. له همدې امله اړینه ګڼم چې د طرحې او توحید لوی ریاست او کمیټې له رئیس ډاکتر میرویس بهیج ، د ولایتونو د اقتصادي فعالیتونو د انسجام له آمر ښاغلي عبدالرحمن کمین اود ښاغلی شفیق "احساس" د لغمان ولایت داقتصاد رییس ، څخه په ځانګړې توګه مننه او قدرداني وکړم چې په خپلو هڅو او زیار سره یې د یاد پروفایل د جوړولو لپاره لاره هواره کړه.

همداډول، د ولایتي مسئولینو او کارکوونکو له همیشنۍ همکارۍ څخه چې په دې برخه کې یې زموږ سره همکاري کړې، مننه کوم.

داسند په اته فصلونوکی جوړشوی دی چی دولایت دمعرفی او پیژندنی په شمول دولایت اقتصادی ظرفیتونه ، دخلکو دژوندانه وضعیت، تولنیز اوکلتوری بنسټونه، دولایت پرمختیایی وضعیت، دپانگی اچونی وضعیت، دولایت په کچه پرمختیایی بودجه او لگښت ،دنادولتی موسساتو دفعالیت څرنگوالی ، اقتصادی او تولنیزو مهمه شاخصونه او دافغانستان لپار دبنسټیزو پراختیایی موخو په هکله معلومات را تول شوی دی .

هیله من چې دغه پروفایل به وکړای شي د عامه هوساینې او افغانستان د شریفو خلکو د سوکالۍ په برخه کې ګټوره او اغیزمنه ونډه ولري.

**محمد اسماعیل رحیمي**
**داقتصاد وزارت مسلکي معین**

# د والي پیغام



لغمان ولایت د ګران هېواد په جغرافیه کې یو داسې ښکلی او سمسور ولایت دی چې سینه یې له معنوي او مادي شتمنیو ډکه ده، دغه ولایت لرغونی تاریخ او د مدنیت غني میراثونه لري دې ولایت ته د پوهې، قلم او فکر کور هم ویل کیږي ځکه هر اوسیدونکی یې له کتاب او قلم سره مینه لري او د ژوند په هر ډول لوړو او ژورو کې د کتاب او قلم لاره نه پرېږدي، هر ډول ستونزې ګالي مګر تر ښوونځي او پوهنتون پورې ځان رسوي. همدا علت دی چې لغمان ولایت د بشري روزل شوي ځواک له مخې د افغانستان یو مخکښ ولایت دی، داسې علمي او ملي کادرونه لري چې ولس، هېواد او تاریخ پرې ویاړي.لغمان ولایت د هېواد په ختیځ کې خورا مهم او ستراتیژیک موقعیت لري چې د کابل دروازه هم بلل کیږي، پر سینه یې دری ځپانده سیندونه بهیږي چې دغه ولایت ته یې ځانګړې ښکلاء دا هم څرګنده ده چې د لغمان ولایت شریف ولس د زړه له کومې د خپل هېواد او نظام سره مینه لري او د هېواد په ټولو ملي بهیرونو کې د اسلامي او ملي مسوولیت پر بنسټ ګډون او همکاري کوي، د ملي فکر،انګیزې او بډایه فکري پانګې په ځواک سره د یو متمدن،مترقي،امن لرونکي او باثباته افغانستان لپاره ګډ کار او مبارزې کوي چې دغه ملي قرباني به یې هیڅکله هیره نه شي. د لغمان ولایت هراړخیزه پیژندنه ساده او اسانه خبره نه ده بلکې زیاتې پوهې،څیړنې او لوستنې ته اړتیا لري، اقتصاد ریاست د ولایت مقام د لارښوونې پر بنسټ او د USAID ISLA په مالي او تخنیکي همکارۍ سره د لغمان پیژندنې اړوند مواد،اسناد او معلومات راټول کړي چې د یو کوچني کتاب بڼه یې خپله کړې ده، دې پیژندنه کې د ولایت د تاریخي پیژندنې ، شالید،مساحت،موقعیت،نفوس،اداري،فرهنګ،ټولنې،حکومتي جوړښتونو،ولسي بنسټونو،شته سرچینو،ولسي ارزښتونو،ولسي اړتیاوو او دحکومتوالۍ د ټولو اړونده سکتورونو د اوسني حالت انځور وړاندې شوی دی، اړینه ده چې یاده شي راټول شوي معلومات کیدلی شي چې هر کال نوي او خپاره شي. خوښ یم چې زما په ماموریت کې د ولایت یوه مهمه تشه ډکیږي اوهغه دا چې د ولایت پیژندنې کتاب په بډایه منځپانګې سره ترتیب او نشر کیږي،د لغمان د اداري ماموریت او تلاش دا دی چې ولس ته په هره برخه کې خدمت وکړي، شته تشې ډکې کړي او همدارنګه د امنیت،حکومتوالۍ او انکشاف په سکتورونو کې خپل ولس ته د رښتنو او بنسټیزو خدمتونو جوګه وګرځي. هیله او سپارښتنه مې دا ده چې د دولت هر مامور د عصر له غوښتنو سره سم ځان اعیار کړي، د نویو منل شویو نړیوالو اداري چوکاټونو او سیستمونو سره ځان بلد وساتي، په ځانګړې توګه د ولایت د مرکز او ولسوالیو ټول مامورین دې خپلې اداري له دودیز حالت څخه عصري حالت ته واړوي چې په دې سره به د ښې حکومتولۍ بنسټونه تقویت ومومي، واکمنې به پراخه او ددولت ټولې چارې به ګټورې او ګړندۍ شي. په پای کې د لغمان ولایت د پیژندنې د دې سند د ترتیب او نشر مبارکي ټولو لوستونکو ته وایم، په دې هیله چې له خپل نظام سره همکار او په ټولو برخو کې راسره خپل نظر،مشوره او غبرګون شریک کړئ.

**محمد اصف ننګ**

**د لغمان ولایت والي**

# لنډيز

د بهير پرمختګ، په بنسټيز ډول سره تدريجي بڼه لري او د تدوام او  هغه ته عمومي بڼې ورکولو لپاره بايد بل القوه سرچينې، په مديريتي طريقو او بل الفعله ټولنيز ذهنيت بانديې بدل شي. تر ټولو بنسټيز عنصر چې کولای شي د مديريت د بهير په اغيزمنتوب کې زياتوالی راولي، د کړنلارو طرحه او ترتيبول او د سرچينو او امکاناتو د ګټه اخيستنې طريقو ته سيستماټيکه بڼه ورکول دي تر څو د پرمختيايي موخو د پلي کېدو او تداوم لپاره لاره هواره شي.

په لوړه او کښته کچه پلان جوړونه بايد پر کره او هراړخيزه ارقامو او مالوماتو بانديې تکيه ولري تر څو د وخت او سرچينو له ضايع کېدو څخه مخنيوی وشي او پلان جوړونه مثبته اغيزه ولري. د هراړخيزو مالوماتو او ښکاره او ثابتو ارقامو د نه شتون په صورت کې، د ټاکلي ټولنې د اقتصادي او ټولنيزو واقعيتونو او حالاتو په تړاو روښانه او پر حقايقو ولاړه ارزونه او تحليل شوونی نه برېښي؛ طرحه شوي پروګرامونه له اړين اغيزمنتوب پرته تطبيقيږي؛ او د سرچينو د ضايع کېدو او له منځه تلو لامل ګرځي.

له همدې امله د اقتصاد وزارت په دې وتوانېده چې دغه پروفايل د يو رېښتينې بنسټ او د هېواد په کچه د يوې مالوماتي سرچينې د ټاکلو او ولايتونو د شته حالاتو په هکله کره مالوماتو ته د لاسرسی په موخه د پاليسي جوړونکو، پلان جوړونکو، څېړونکو، دولتي ادارو، نادولتي مؤسسو، خيريه بنسټونو، زده کوونکو او ليکوالانو لپاره تر تيب کړي. ياد پروفايل د تخنيکي کمېټې په مټ جوړ شوی چې مرکزي او ولايتي مسلکي کارکوونکو ګډون په کې کړی وو او د دولتي ادارو، نادولتي مؤسسو، ځوانانو، پوهنتونونو د ښوونکو، پوهانو، مدني ټولنې او نورو اړونده مرکزي او ولايتي ادارو په همکارۍ جوړ شوی او د افغانستان د خلکو چوپړ ته وړاندې کيږي.

ياد پروفايل له پلان جوړونکو او پاليسي جوړونکو نهادونه سره مرسته کوي تر څو خپل پرمختيايي پروګرامونه طرحه او ترتيب کړي او د اقتصادي او تولنيزې پرمختيا د فعاليتونو اغيزمنتوب په ټولو پرمختيايي سکټورونو کې، د هر ولايت اړونده جغرافيايي حالاتو ته په کتو وارزوي او تحليل کړي. پر دې سربېره، لومړيتوبونو او د انډوليزې پرمختيا سرچينو او امکاناتو ته په کتو، ياد سندکولای شي له هغه سيمو سره هم زياته مرسته وکړي چې زيانمنونکي ګڼل کيږي.

دغه سند اته څپرکي لري. په لومړي څپرکي کې د ولايت په اړه مالومات وړاندې شوي او تر هغه وروسته د ولايت اقتصادي ظرفيتونو، د معيشت حالاتو، ټولنيزو او فرهنګي جوړښتونو ته اشاره شوې ده. په دويم څپرکي کې د ولايت پرمختيايي حالت، د سکټوري کمېټو(د کرنې او کليو د پراختيا، زيربنا او طبيعي سرچينو، روغتيا او خوړو، د اقتصاد اداره او خصوصي سکټور پرمختيا، پوهنه او فرهنګ او ټولنيز خونديتوب د سکټورونو) جوړښت، په ولايت کې د شته ظرفيتونو او پانګونو د حالت ... پر بنسټ ارزول شوی دی. په درېيم څپرکي کې د پرمختيايي بوديجې او په تېرو څو کلونو کې د هغې د لګولو په اړه خبرې اترې شوې دي. په همدې ډول، د نادولتي مؤسسو د فعاليتونو څرنګوالی په څلورم څپرکي کې وړاندې شوی دی. پينځم څپرکی د سرچينو د تشخيص او ولايت د اقتصادي پوټنشيلونو په اړه مالومات وړاندې کوي او شپږم، اووم او اتم څپرکی په ترتيب سره، د لومړيتوب لرونکو ملي پروګرامونو، احصائيې د ملي ادارې د ورستيو ارقامو او افغانستان د دومدارې پرمختيا پروګرام د مالوماتو پر بنسټ، د ولايتونو د بنسټيزو اقتصادي او ټولنيزو شاخصونو په هکله خبرې کوي.

# میتودولوژي(د جوړولو طریقه):

د ولایت پروفایل د یوې منظمې او څېړنیزې طریقې پر بنسټ، د ولایت د شته حالاتو په هکله مالوماتو راټولولو په موخه، د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژۍ، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، ملي لومړیتوبونو پروګرام او افغانستان د دوامداره پرمختیا پروګرام موخو او شاخصونو ته په کتو، ترتیب شوی دی.

د پروفایل جوړولو لپاره، لومړی د اقتصاد وزارت د طرحې او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا، د ولایتونو د اقتصاد ریاستونو کاري ټیمونو ته د پروفایل جوړولو او ارقامو غونډولو لارښود ورکړل شو تر څو ټاکلو شاخصونو ته په کتو، د ولایتونو په کچه ټول شته ارقام راټول شي او د هغوی په رڼا کې د ولایتونو پروفایلونه جوړ شي. تر هغه وروسته، د ولایتونو د اقتصاد  ریاستونو کاري ټیمونو، په ولایتونو کې د مېشتو سکټوري ریاستونو په همکاري اړین مالومات د ولایت په کچه له بیلابیلو باوري څېړنیزو مراجعو او سرچینو لکه د احصائیې ریاست او نورو دولتي نهادونو، خصوصي سکټور، داخلي او بهرني نادولتي مؤسسو، مدني ټولنې له نهادونو او نورو باوري مراجعو څخه د یوې پوښتنپاڼې له لارې راټول کړل او د ولایتي پروفایل په نامه یې یو واحد سند جوړ کړ.

پر دې سربېره، د ارقامو راټولولو او مالوماتو تر لاسه کولو په برخه کې، له ذیدخله اړخونو او پوهانو سره د ډله ییز کار او مرکو له طریقو څخه هم کار واخیستل شو. همداډول، د دې سند جوړولو په کار کې د باوري ملي او نړیوالو سرچینو او مأخذونو لکه د افغانستان د خلکو د حالت سروې، د ملي لومړیتوبونو پروګرام لنډیز، د ولایتونو د مالي مسئلو او بودیجې په اړه د مالیې وزارت ولایتي پروفایل، په ولایتونو کې اقتصادي طرحې او شته بل القوه ظرفیتونو، د افغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ، د اقتصادي او ټولنیزو شاخصونو ټولګې او د افغانستان د دوامداره پرمختیا له موخو څخه هم کار اخیستل شوی دی.

په پای کې باید ووایو چې یاد سند، د طرحې  او توحید لوی ریاست د تخنیکي ټیم لخوا په دقیقه توګه کتل شوی او مطالعه شوی او له مخکې ټاکل شویو شاخصونو او معیارونو پر بنسټ، د څېړکو او مندرجو ارقامو تر پرتله ییزې بیاکتنې وروسته چاپ ته سپارل شوی دی. دغه سند د یو ریښتیني بنسټ په توګه، د شته حالاتو ارزونه په سمه توګه وړاندې کوي او د ولایت د پرمختیایي پلان جوړونې د بهیر لپاره هم اسانتیا برابروي. همداډول، یاد سند پانګه وال او پرمختیایي همکاران هڅوي تر څو د پانګونې او دوامدارې پرمختیا د سمون په برخه کې رغنده او اغیزمنه ونډه واخلي.

# ددې سند پیژندنه:

د لغمان ولایت فروپایل( پیژندنه) یو داسې مسند سند دی چې د ولایت هره اړخیزه پیژندنه په کې نغښتې او وړاندې شوې ده، نومړی سند د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د اقتصاد وزارت د لارښوونې پر بنسټ د لغمان ولایت د اقتصاد ریاست لخوا او د سیمه ییزو ادارو د پیاوړتیا نوښت پروژې (ISLA) په تخنیکي همکاری سره په پنځو څپرکو کې راټول او ترتیب شوی دی.

په ترتیب شوي مهم سند کې د ولایت د تاریخ، جغرافیې،نفوس او موقعیت په اړه د نویو معلوماتو ترڅنګ د ولایت د ټولیز وضعیت ارزونه او انځور وړاندې شوی او د یوه ځانګړې فهرست له مخې د امنیتي سکتور، حکومتوالی، اقتصادي سکتور، کرنې او کلیو پراختیا،پوهنې، روغتیا، طبعي سرچینو او زیربنا، ټولنیز خوندیتوب د سکتورونو، د حکومتي موسساتو د فعالیت، د افغانستان د سولې او پرمختیا د ملي چوکاټ او د افغانستان د پایښت د لسو موخو په اړه دقیق او ګټور معلومات په دغه سند کې ځای پرځای شوي دي، چې د مرکزي حکومت او نړیوالو همکاره مرستندویه ټولنو سره د تصمیم نیونې په پړاوونو کې ګټوره مرسته کولی شي.

ددې سند ترتیب د ولایت په کچه یوه غوره لاسته راوړنه بلل کیږي،ځکه چې د ولایت فروپایل په ولایتي او ملي کچه په ډیرو مهمو بهیرونو او تصمیمونو کې د یو غوره سند په توګه رول اداء کولی شي ځکه چې ټولو ته د ولایت د هرې برخې په اړه معلومات وړاندې کولی شي.

اړتیا ده چې د ولایت ټولې اداري هر کال خپل معلومات نوي او دې سند کې ځای پر ځای کړي ترڅو لوستونکي او میشت ولس ته څرګنده شي چې د ولایت په کچه د خدمتونو د وړاندې کولو بهیر څنګه او د ولایت وروستی وضعیت کوم حالت لري، هغه څه چې د دې ډول سندونو په بډاینه کې مرسته کولی شي هغه د ولایت په کچه د یوه داسې ډیټابس جوړول دي چې په اتوماتیک ډول د هرې اداري لخوا په کې خپل معلومات نوي شي، له بدمرغه چې دا تشه تر اوسه پورې موجوده ده، په کار ده چې په دې برخه کې د عصر له غوښتنو سره سم ګام اوچت شي او موجوده تشه ډکه شي.

# لومړی څپرکي

## دولایت پېژندنه:

### ۱. ولایت دتاریخ په هنداره کې:

لغمان ولایت د هېواد ختیځ کې پروت ولایت دی، چې د ۳٤,۲۵ څخه تر ۳۵,٤۳ شمالي عرض البلد او ٦۹,۵۳ څخه تر ۷۰,۵۲ شرقي طول البلد ترمینځ واقع دی، څلور خوا یې په دې ډول دي، چې جنوب لویدیځ ته یې کابل، جنوب او جنوب ختیځ ته یې ننگرهار ختیځ ته یې کنړ، شمال ختیځ ته یې نورستان، شمال لویدیځ ته یې پنجشیر او بدخشان او لویدیځ ته یې کاپیسا ولایتونه پراته دي. یاد ولایت د بحر له سطحې څخه ۷۷۲ متره لوړوالی لري، مساحت یې ۳۹۷۷,۸۷ کیلومتر مربع دی. اقلیم یې په ژمي کې معتدل او په اوړي کې مرطوب او گرم دی.

د هوارو دښتو او لوړو غرونو درلودونکې دی، چې په ژمي کې یې په غرونو واورې اوري او د کال په اوږدو کې یې ځینې غرونه په واورو پټ وي.

دا ولایت د نورستان سره په پوله کې د کویشت غر، د کابل ولایت سره په پوله د لغمان لویدیځ لور ته د کاوون غر، د نورلام صاحب په دره کې د تمیل غر او په کشمند کې د کشمند غر په نوم مشهورغرونه لري.

لغمان د اوبو له پلوه غني ولایت دی، چې د الینگار او علیشنگ په نومونو مشهورسیندونه لري او د کابل سیند هم د دې ولایت څخه تیرېږي، چې د ځمکو خړوبولو لپاره یې دې ولایت ته په ځانگړې ډول د قرغیي ولسوالی ته ډېره گټه رسولې ده. اوسنی لغمان په تېرو وختونو کې د لمپاکا، لمگان او لمغان په نومونوهم یاد شوی دی. د لغمان ولایت مرکز د مهترلام ښار په نوم یادېږي، چې مهترلام بابا د دې ولایت یو نوموتی شخص تیرشوی دی او مزار یی په همدې ښار کې موقعیت لري.

نومړی ولایت د ۱۳٤۵ لمریز کال څخه وړاندې مشرقي پورې تړلی و، خو په ۱۳٤۵ لمریز کال کې رسماً د مستقل ولایت په توگه وپېژندل شو. په دې ولایت کې  څه واړه او کوچني قومونه هم شته دی، خو د نیازي، صافي، الکوزي، یوسفزي،سهاک، اسماعیل خیل،ستانکزي، پشه یي، کوچیان، جبارخېل، بابکرخېل، ناصر او عبدالرحیمزي په نومونو لوی قومونه په کې مېشت دي.

د یاد ولایت اوسیدونکي په پښتو، دري او پشه یي ژبو خبرې کوي او ټول اوسیدونکي یې مسلمانان دي او همدارنگه د لغمان نږدې ټول اوسیدونکي حنفي مذهبي دي.

په همدې ډول د کلیوالي او ولسي ژوند د تېرولو لپاره خپل ولسي تړونونه لري او خپل قومي او سیمه ییز مقررات او ټولنیز قوانین لري او د هغې په رڼا کې خپل ژوند پر مخ بیايي.

د دې ولایت اوسیدونکي په ټولیزه توگه ذکي خوارېکښ، هنر خوښوونکي او ترقي خوښوونکي دي، خو د مزاج له پلوه مینځمهالي دي، په کلیو ولسونو کې ولسي لوبې لکه کاچي او ډانگي، خوسی، غیږې نېول، منډه، تیگه اچول، پانډوس او داسې نور د ځوانانو ترمینځ رواج لري، په مذهبي لحاظ خپلو پخواني مذهبي مشرانو، زیارتونو، سیدانو، ملایانو او روحاني کسانو ته په ډېره درنه سترگه گوري او د هغوی په مقابل کې د هر ډول بې احترامۍ سره ډېر حساس دي. همدارنگه هلکان او انجونې خپلې دیني زده کړې د کلي د ملا امام څخه د ښوونځي د دوري څخه مخکې پیلوي او ان د

ښونځي تر څنګ ورته دوام ورکوي او خپل ورځيني پېښيدونکي فقهي مسئلې او نور مذهبي چارې په همدې شکل سره زده کوي.

دې وروستيو څو کلونو څخه وړاندې خلکو د څښاک لپاره د ویالو روانو اوبو، چېنو او کارېزونو څخه ګټه اخيستله، خو په دې ورستيو کلونو کې د ژورو او نیمه ژورو څاګانو اوبو څخه ګټه اخلي او همدارنګه په غرېيزو سيمو کې لا ځينې کلي د نلونو د اوبو څخه ګټه اخلي.

د دې ولایت ټول مساحت نږدې۶۰٪ سلنه یې چې ۲۰۰۰۰ هکتاره کېږي زراعتي ځمکې دي، چې عمده تولیدات یې وریجې، سبزیجات، غنم، جوار، ګنې او حبوبات دي او۱۱۳۰۰۰هکتاره ځمکه په ځنګلونو پوښل شوې ده، چې عمده یې څېړۍ او نښتر ونو ځنګلونه دي.

همدارنګه د بابا صاحب، شخطرای ، ګمبیري، لمټې، شمټي، نیلاوټ او دلارام په نومونو لويې لويې دښتې هم لري، چې د یادو شویو ځنګلونو او دښتو څخه د مالونو د څر لپاره ګته اخلي.

په همدې ډول هغه کرنيزې ځمکې، چې د کابل، الینګار او علیشنګ د سیندونو په غاړو کې پرتې دي د سیلابونو او اوبختنې /آبخیزی/ له پلوه ډېرې اسیب پذیره دي او د دې اوبو قرباني کېږي، خو برعکس د نورلام صاحب دره، ساوو دره، د کلمان دره، د چتلا دره، سنګر نیازي، سالاب، تګ، ماسموت، دره نجیل، سایګل دره، د ګران دره، د شمکت دره، د کرنج دره د داسې ځمکو درلودونکي دي، چې وچکالۍ او بې اوبوتوب څخه ځورېږي.

په ټولیزه توګه د دې ولایت ځمکې د کرکيلې لپاره ډېرې مساعدې دي، دا په دې مانا چې نورمال پي ايچ لري نه ډېرې تیزابي او نه ډېرې قلوي دي، همدا ډول د قرغيي په ولسوالۍ کې یو څه نا څه شګلنې ځمکې شتون لري، خو په ټولیزه توګه د لغمان ولایت ځمکې په مناسب ډول خاوره لري او دا ولایت للمي ځمکې نه لري.

دا چې مخکې ور څخه یادونه وشوه، چې نوموړی ولایت د شپږو ولایتونو سره ګډې پولې لري، خو په ټولیزه توګه یې سوداګري او اقتصاد د ننګرهار او کابل د ولایتونو څخه اغېزمن دی او خپل اړتیا وړ ډېر توکي د دې ولایتونو څخه واردوي او هم خپل زراعتي توکي او لبنیات همدې دوه ولایتونو ته صادروي، خو په فرهنګي برخه (ناسته پاسته، لباس، ژبه، کره وړه، د غم ښادۍ مراسم، ټولنيزو کارونو او نور) کې زیاتره د ننګرهار د فرهنګ سره نږدې دي او د ننګرهار فرهنګ څخه متاثره دي، همدارنګه نور ټولنيز نږدېوالی یې هم د یاد ولایت د خلکو سره ډیر دی او هم یې هر ډول تغیر (اقلیم، سیاسي تغیرات، ټولنيز او نور) په مستقیمه توګه د ننګرهار ولایت څخه اغیزمن کېږي.

په دې خاطر چې د انرژۍ کمې سرچينې لري او د نورو ځایونو څخه د انرژي د لاسته راوړلو لپاره هم ښه موقعیت نه لري نو د صنعت له پلوه پرمختللی ولایت نه دی، خو بیا هم په کې رواجي او پخواني داسې صنعت چې ډېرې انرژۍ ته اړتیا نه لري لکه کلالي، نجاري، چاقو جوړونه، اوبدل، پنير جوړول او فلزکاري شتون لري، همدارنګه د یخ جوړول هم پکې شته دی.

## ۲. دنوم ایښودلو وجه:

لغمان د تاریخ په اوږدو کې په بېلا بېلو شکلونو او بڼو لکه: لامګان، لمګان، لان پو، لنپاکا، لامپاکا، رامپاکا، لمپاکا، لمبکا، لمغان، لمقان، لمقانات، لمغانات او نورو نومونو نومول شوی او یاد شوی دی.

د لغمان د تسمیې په باب بېلا بېل تحلیلونه او نظریې شته، خو کوم شی چې د افغانستان په جغرافیایي قاموس کې راغلی دی هغه سم او صحیح بریښي ځکه یو خو هغه خپله د افغانانو نظر او تحلیل دی او بل دا چې په حقیقت ولاړ دی او په سیمه کې ډېر داسې شواهد او واقعیتونه شته، چې دغه نظر تا ییدوي.

لغمان یو له پخوانیو او لرغونو کلیمو څخه دی، چې زرګونو کلونو په ترڅ کې په بېلو بېلو شکلونو تر اوسه پورې پاتې دی، لامګان، لام پاکالانپو او داسې نور ټول د لغمان د بېلو بېلو دورو نو مونه دي.

لام، لاما په پښه یې کې د کلي مانا ورکوي، دا کلیمه پښه یې ته منحصره نه ده بلکې اصل یې نږدې اریایي مشترکې ژبې ته رسېږي، چې په زیاتره اریایي ژبو کې یې ریښه شته، د پښه یې لام د فارسي لان او د پښتو (بان) ټول یو اصل لري او مانا یې ځای او کلی دی.

ګان او (غان) چې لومړنی د جمعې لامه او وروستی یې د نسب لاحقه ده، چې په (چغان)، (چتان) او داسې نورو کې شته، په دې حساب مانا کلی یا د کلي اوسېدونکي کېږي، په دې ترتیب سره د دیګان، دیشین، وطني او د کلیو اوسېدونکي او لامګان کلیمې سره یو دي په لامپاکا او لمپاکا کې (لام) شته ویل کیږي، چې پاکا د هغه چا نوم وه، چې کلي پرې یاد شوي او ورته منسوب شوي دي.

لغمان یا لمپاکا په لرغونو زمانو کې ځانته یوه خپلواکه پاچاهي وه چیني نامتو ذایرهیون تسنګ چه ۶۲۹م کلونو ترمنځ لانپو ( لغمان ) ته راغلي وه په دي هکله داسي لیکي : ددي په خاطر چه د څو پیړیو څخه راپدیخوا ددغه مملکت شاهي کورني له مینځه تللي او مشران یي د قدرت نیولو په خاطر ددي نه پرته چه د یو دبل برلاسي ومني پخپلو کي مخالفتونه کړي او اخر کي بیا د کیا پیشي ( کاپیسا ) تابع شوي دي .

لغمان یو وخت د ګندهارا د ستري سیمي یوه برخه وه چه د کابل سیند حوزه یي په بر کي نیوله سره له دي چه لغمان د افغانستان یو لرغوني او سمسوره برخه ده خوبیا هم د نړي ځیني فاتحانو، سیلانیانو ، لیکوالانو او مورخینو په بیلابیلو دورو کي دغه سیمه د بیلا بیلو جغرافیایي سیمو په حدودو کي شامله ګڼلي ده .

د میلاد نه دري سوه کاله د مخه زمانو کي د افغانستان د نورو شرقي سیمو سره یو ځاي دغه سیمه ان دارغنداب ترناوي پوري شامله وه ، لغمان ان د غزنویانو تر عصره د کابل شاهانو اوددوی پاتي هندو شاهانو او د ملتان د لودي شاهي کورني تر تلسط لاندي پاتي شوي وه .

د امیر سبکتګین په وخت کي د غزنوي شاهانو د پاچاهي په سیاسي حدودو کي شامل شو هغه وخت چه د افغانستان په ځینو سیمو کي تیموریانو یرغلونه او حملي شروع شوي وي دغه مهال د کنړ په دور کي ځیني محلي حکمرانانو تسلط درلوده چه مرکز یي ننګرهار وو .

ددي کورني مشران سلطان پکهل او سلطان بهرام دوه ورونه وه د سلطان پکهل د ځینو روایاتو له لمخي دوي پښه یي د شنکنګ له قبیلي څخه وه د واکمني سیمه یي له لغمان ،کنړ ، باجوړ ، سوات او کشمیر پوري وه ، خو د سلطان بهرام د ورور له مړیني وروسته ګوګانیانو ددولت ترجوړیدو په هغي کي ددوي تر استقراره وروسته د افغانستان شرقي سیمي د کابل په صوبه کي شا ملي ګڼلي شوي دي ترڅو چي لوی احمد شاه بابا ( ۱۱۶۰-۱۱۸۶) هجري قمري کال د افغانستان تاریخي جوړښت بشپړ او واحد سیاسي مرکزیت یي په کندهار کي رامنځته کړ .

لغمان ته داسلام د مبین دین د پلوشو خپریدل که څه هم کیدای شي چې په خصوصي او انفرادي توګه  د اسلام مبارک دین خپریدل لغمان ته د مخه هم پیل شوي وه خو په عمومي توګه د لغمان سیمي ته  د لومړي ځل لپاره د غزنویانو د لومړني پاچا سبکتګین په وخت کي په ( ۳۸۱- ۹۹۱)میلادي کال کي د اسلام مبارک دین خپریدل پیل شوي دي چې سلطان محمود غزنوي هم په دي فتوحاتو کې برخه لرله .

نږدې نیمه یا یوه پېړۍ مخکې به خلکو د ټول کور لپاره یواځې یوه کوټه درلوده، چې ډېرو لږو خلکو به یو دالان هم ور سره درلوده چې دې کوټې به یواځې په چت کې یوه یا دوه سوري(دریمځي) درلودل، چې د هغې څخه به کوټې ته رڼا راتلله او همدارنګه د رڼا لپاره به يې استعمالول.

د خپل ژوند لوی کارونه به يې په شریکه د حشر په شکل او د کلیو د ګډو هڅو په شکل سرته رسول، همدارنګه خپلې هر ډول لانجې (حقوقي، مدني او حتی جنايي لانجې) د کلي او سیمې په مخورو او مشرانو حلولې.

## ۳. جغرافیایي موقعیت اوموسم

لغمان ولایت دهیواد په شرق کې موقعیت لری  دریمه درجه  ولایت ده چې دغرونو پواسطه احاطه شوی ، دننګرهار ،کنړ،نورستان ، کاپیسا ، پنجشیراو کابل ولایت سره ګډ سرحد لری نوموړی ولایت  په ۱۳۴۵ کال کې تاسیس شوی او دمهترلام ښار یی مرکز دی. د بحر دسطحی څخه ۷۷۲ متره ارتفاع  او مدیترانی نیمه مرطوب اقلیم لری په اوړی کې هواګرمه او په ژمی کې په نسبی توګه معتدله ده ، لغمان ولایت دمرکز(مهترلام ) په شمول شپږ اداری واحدونه لری چی عبارت دی له الینګار، قرغه یی،علیشنګ،دولتشاه او بادپښ څخه دی .




دلغمان ټول مساحت ۳۸۴۳ کیلومتره مربع ده چې ۴۲،۲فیصده غرونه ۱۳،۲فیصده دښتی ۳،۲ فیصده نیمه همواره ځمکه ۵ فیصده شګلنی دښتې او ۳٦،۴ فیصده یی کرهنیزه ځمکه تشکیلوي ددې ولایت ټول نفوس څه دپاسه یو میلیون نفره ده ،چې په ٦۴۰ قریو کې اوسیږی ددی ولایت اوسیدونکي پښتانه ، تاجک او پشه یو څخه عبارت دي .

ددی ولایت۷۰٪نفوس باسواد ده چې ۷۵٪فیصده په کلیو او۳۵٪نفوس یی په ښآر کې اوسیږی، دبی روزګاری کچه دنفوس دتناسب او دولایت مساحت ته په کتنی سره نسبت نورو ولایتونو ته زیاته ده .

ټول وګړي:

په لغمان ولایت کې تازه سر شمېرنه نه ده تر سره شوې او تر اوسه هم د ۱۳۵۸ لمریز کال د احصايې څخه کار اخیستل کېږي چې ۴٦۰۳۵۲ تنه نفوس ښودل شوی چې ۲۳٦۸۹۲ یی نارینه او ۲۲۳۴٦۰ یی ښځینه تشکیلوي چې په واقعیت کې د لغمان نفوس شا او خوا یو میلیون ته رسیږي.

د لغمان د احصايې امریت د معلوماتوله مخې په اساس تر اوسه نه ده مالومه، چې د لغمان احصایوي شمېرنه او یا هم لږ تر لږه سر شمېرنه به کله پیل کېږي.

**دوګړو په هکله څرګندوني دښاري،کليوالواودکوچيانو شمير:** د لغمان ولايت د احصاييې امريت د ۱۳۵۸ کال د احصاييې په اساس ټول ټال ۵۴۱۰ تنه په ښار کې ژوند کوي چې ددې جملې څخه ۲۸۰۳ تنه نارينه او ۲۶۰۷ تنه ښځينه په ښار کې ژوند کوي برعکس په لغمان ولايت کې ۲۳۴۰۸۹ نارينه او ۲۲۰۸۵۳ ښځينه په کليو کې ژوند کوي.

د کار د ځواک سلنه: لغمان ولايت دبشري قوې له مخې غني دی دهيواد په ټولو ولايتونو کې دلغمان وګړي په بيلابيلو دندو بوخت دي پدې ولايت کې دباسواده قشر ترڅنګ فني او غيرفني بشري قوه هم په پوره اندازې سره شتون لري ولې ددې قوې لپاره کاري زمينه نده برابره شوې د لغمان ولايت وګړي دبې کارۍ څخه رنځ وړي ډيره کمه اندازه خلک پدې ولايت کې په رسمي دندو او کوچنيو کاروبارونو مصروف دي چې ۲۰سلنه تشکېلوي په ټوله کې دلغمان په ولايت کې دکار قوه فني ، غيرفني او هم مسلکي ۸۰ سلنې ته رسيږي.

**د جنسيت پر بنسټ په کار بوختيا:** داچې لغمان دريمه درجه ولايت دی ،دولتي اوغيردولتي اداري محدود واحدونه او تشکېل لري ،نو دښځينه جنسيت شتون په دفاترو کې کمرنګه دی لوی علت يې په اداراتو کې ددې جنسيت لږحضور دی پدې ولايت کې يوازې دښځو چارو ،عامې روغتيا او پوهنى رياست اړوند ادارو کې ښځې په دندو بوخت دي چې دنارينه وو په تناسب ۱۰ سلنه تشکېلوي.

دولايت لرغوني برخې او تاريخی مانۍ:

د دې ولايت ۱٦ په سلو کې (۱٦٪) فرهنګي ميراثونه ثبت او راجستر شوي دي او پاتې نور يې تر دې دمه د دې پروسې (ثبت او راجسترکولو) څخه محروم پاتي دي، هغه فرهنګي ميراثونه چې ثبت او راجستر شوي دي په لاندې ډول سره په يو جدول کې ورڅخه يادونه شوې ده.

| # | د فرهنګي ميراث ډول | موقيعت | د موندلو نېټه | د چا له خوا وموندل شو | د ثبت کولو نېټه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د مهترلام مزار ودانۍ | مرکز | | سلطان محمود غزنوي | |
| ۲ | سراج کلا | مرکز | | حبيب الله خان | |
| ۳ | زرغونډۍ | مرکز | | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت لرغون پيژندونکي | |
| ٤ | د پيغمبر (ص) مبارکه خرقه | عليشنګ نوراو | | ميا عبدالکريم بابا | |
| ۵ | ننګه دړ (تاريخي اثار) | الينګار سالاو | | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت لرغون پيژندونکي | |
| ٦ | خواجه کوټ تاريخي اثار | علينګارتګ | | | |
| ۷ | دجالم تونل | علينګار کوټلي | | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت لرغون پيژندونکي | |
| ۸ | غلور برجه کلا | قرغيي ولسوالي -سرکونډو بابا | | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت لرغون پيژندونکي | |

پورته ذکر شوي فرهنګي اثار د ولایت د اطلاعات او فرهنګ د ریاست سره ثبت او راجستر شوي دي مګر یو څو لاندې نور يې د دې رياست سره ثبت او راجستر شوي نه دي، ځکه چې تر دې دمه د مرکز څخه کوم پلاوی نه دی راغلی، خو دوی سره يې مالومات شته دی، چې ورڅخه په لاندې ډول یادونه کیږي:

| شمیره | نوم | موقعیت |
|---|---|---|
| ۱ | خرقه مبارکه | مهترلام |
| ۲ | څلور برجه کلا | قرغيي سرکونډو بابا |
| ۳ | مغاره | قرغيي عزيز خان کڅ |
| ٤ | مغاره | علینګار ولسوالی ته مخامخ |
| ٥ | زړه کلا | دعلیشنګ کلی |
| ٦ | جایلم غونډۍ | علینګار کوټالی |
| ٧ | منار | علینګار شاهي کلی |
| ٨ | کافر کلا | الینګار ـ ورانتیا |
| ٩ | د میا عبدالکریم مزار | نورام کلی |
| ۱۰ | د حام او سام بابا مزار | مرکز شلټک |
| ۱۱ | د شاهي کمر تخت | علیشنګ ـنجیل کلا |
| ۱۲ | د ننګه دړ کلا | الینګارـکچړسالاب |
| ۱۳ | په ډبره کې د حضرت محمد (ص) نوم | مرکز جامع مسجد |
| ١٤ | د ډمبنوغونډۍ | علیشنګ ـماسموت |
| ١٥ | ډبرلیک ـپراډولي | علیشنګ ـسایګل |
| ١٦ | د ډاګ کلا | علیشنګ کلی شمال ته |
| ۱۷ | د راڼی ښار | د علیشنګ ولسوال لویدیز ٦ کیلو متره |
| ۱۸ | سوری تیګه | د علیشنګ ولسوالی ختیځ ٥ کیلو متره |
| ۱۹ | د قران خطي نسخه | . |
| ۲۰ | د ډمبنوغونډۍ | علیشنګ ـماسموت کلي |
| ۲۱ | د خروټو کلا | مرکزـبادپښ |
| ۲۲ | د کرنج د مینځ کلي نسخه | مرکز ـ کرنج |
| ۲۳ | د عمرزیو نسخه | مرکز ـعمرزي |
| ٢٤ | د تیرګړیو درمسا ل | مرکز ـتیر ګړي |
| ٢٥ | د واډیان او نګوشه ویاله | علیشنګ ـسایګل |
| ٢٦ | ډبرلیک | علیشنګ شمال ته (١٥) کیلومتری کې |
| ۲۷ | د جایلم تونل | علینګار جایلم کلی |
| ۲۸ | د بادپښ د کنډو ډبرلیک | مرکز بادپـښ |
| ۲۹ | شیطان ډاګ | د مرکز لویدیز (٤٨) کیلو متری کې |
| ۳۰ | د بلورستان څلی | علینګارـشاهي سیمه کې |
| ۳۱ | نورلام بابا زیارت | علینګارـنورلام دره |
| ۳۲ | د شرکوغونډۍ | علیشنګ ولسوالي |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۳ | برجونه | علینگار_نورلام بابا دره |
| ۳٤ | امروغنډی | علیشنګ _درویش اباد |
| ۳۵ | اندرا | علیشنګ _غازي اباد |
| ۳٦ | سلطان غازي بابا مزار | مرکز |
| ۳۷ | د درویش خان غازي مزار | علیشنګ _اسلام اباد |

په لغمان ولایت کې موزیم شتون لري چې ۲۹ قلمه مختلف اثار پکې موجود دي. دوه تاریخي یادګارونه، چې یو د مهترلام بابا زیارت دی چې په ۱۳۸۹ او بل هم د سراج کلا ده چې په ۱۳۹٦-۹۷ لمریز کال کې د اطلاعات او کلتور وزارت له خوا بیارغولو کار پیل شوي دي.

په دې ولایت کې یو عامه کتابتون او یو خصوصي فرهنګي مرکز وجود لري، چې په یوه وخت کې د ۲۵۰ تنو د مطالعې ظرفیت لري څرنګه چې د دغه ولایت خلک له لیک لوست سره خورا زیاته مینه لري نو په خپلو کورونو کې هم کتابتونونه لري.

# دوهم څپرکي

## د ولايت د ټوليز وضعيت ارزونه:

### ۱- د دروغتيا د سکټور د اوسني وضعيت ارزونه:

ددي ولایت ۹۷سلنه وګړي روغتيايي خدمتونو ته لاس رسی لري چې هغه هم په ډيره ټيټه کچه وړاندې کېږی. لغمان ولايت ته د۴۰۰زره وګړو په تناسب روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مصارف ورکول کېږي حال داچې دلغمان نفوس د۸۰۰ زره څخه زيات دی او دنورستان ددوه ولسواليو (دواب او نورګرام ) وګړو روغتيايي خدمتونه هم په لغمان کې ترسره کېږي چې ټولټال څه دپاسه یو ملیون نفوس څخه زياتيږي.

د روغتيا سکتور په پياوړتيا سره کېدای شي چې ولس ديوې سالمې ټولنې لرونکې شي چې داسې ټولنه په هر اړخيزه توګه پرمختګ کولی شي او دزياتو بریالیتوبونو لرونکې به وي، دپورته هدف لاسته راتګ لپاره دم ګړی د لغمان په ولايت کې يو باب ۱۵۰ بستريزولايتی روغتون، يو باب د الينګار ولسوالی روغتون، دمخدره توکو روږدو کسانو دتداوی ۲۰بستريز روغتون ، ۱۸بابه BHC او ۹بابه CHC ،يوباب د محبس کلينيک ، نهه ګرځنده مبايل ډلې ۴۴۷ روغتيايي پوستې،دکابل جلال اباد په لويه لاره د سرخکانو تروما سنټر ، او ۱۷ فرعي روغتيايی مراکز فعال دي چې دلغمان ولايت اوسيدونکوته په دوامداره توګه روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي. په لغمان ولایت کې ټول ۳ روغتونونه موجود دي چې يو يې د علينګار ولسوالی روغتون ، مهترلام ولايتي روغتون بل د روږدو کسانو د تداوۍ شل بستريز ولايتي روغتون فعاليت کوي چې د بستر خدمتونه وړاندې کوي.

څرنګه چې دلغمان ولایت نفوس دمساحت په تناسب زيات دی په ټول ولايت کې يو ولايتي ۱۵۰بستريز روغتون شتون لري نو لازمه ده چې د دې ولايت په ۵ ګونو ولسواليو کې دولسواليو ۵۰ بستريز روغتونو ودانۍ ورغول شي ترڅو دلغمان په ولسواليو کې ميشت وګړي په مربوطه ولسواليوکې تداوي او په ولايتي مرکزي روغتون باندې د ناروغانو حجم کم معياري روغتيايي خدمتونه وړاندې کړي.

دلغمان ولايت کې شته کلينيکونه يودبل څخه په لرې واټن کې قرار لري ناروغان نشي کولی چې په وخت او اسانه توګه سره روغتيايی مرکزونوته ځان ورسوي.

داچې د بېلابېلو مرضونو تشخيص او تداوي پرمختللو طبي تجهيزاتوته ضرورت لري او دغه تجهيزات دلغمان ولايت په ټولو روغتيايي مرکزونو کې وجود نلري اکثره دلغمان ولايت مريضان ګاونډيو ولايتونو او يا ګاونډې هيواد پاکستان ته دتداوۍ لپاره ځي په زياته اندازې سره مالي تاوانونه ګالي ددې لپاره اړينه بريښي چې دلغمان ولايت ټول روغتيايي خدمتونه وړاندې کونکي مرکزونه په نوي عصري طبي تجهيزاتو سمبال شي ترڅو دامراضوتشخيص او تداوي په ولايت کې ترسره شي.

په لغمان ولايت کې يو خصوصي روغتون فعاليت کوي چې د مدقق روغتون په نامه ياديږي چې د لس بسترو ظرفيت لري.

په هر اړخيزه روغتيايي مرکزونو کې ۹۰ بستره، سرخکانو تراما سنتر ۱۰ بستره، معتاديونو ۲۰ بستريزه، دالينګارولسوالۍ ۳۰ بستريزروغتيايی مرکز ، د خصوصی سکټور (مدقق روغتون) ۱۰ بستره، او ولايتي روغتون ۲۰۰بستره چې ټوله

مجموعه یی ۳٦۰ بستره د ناروغانو د منلو لپار شته. د یادوني وړ ده چې په لغمان ولایت کي مجموعاً ۹۵ درملتونونه شتون لري چې په علینګار ولسوالی کې ۲ ،علیشنگ والسوالی ۷ ،قرغیو ولسوالی کي ۲۳ او مرکز ( مهترلام ) کي ٦۳ وجود لري.

د جنسیت په په پام کې نیولو سره ۱۱ نارینه ۳ ښځینه متخصیصین د ولایت په کچه ولس ته خدمت کوي.

د ماشومانو زیږنونه او د زیږون نه مخکې خدمتونه:

په لغمان ولایت کې په ۱۳۹۷ کال کې دوړو قابلو په واسطه ۱۵۸۴۸ زیږنونه ترسره شوي دي. ددې ځخه برعلاوه د زیږون نه مخکې(دحمل په وخت کې ) پالنې ته لاس رسی په باد پښ ولسوالی کې ۷۷۹ ، دولت شاه ولسوالی کې ۲۱۷۱ علینګا ر ولسوالی کې ۴٦۹٦ ،علیشینګ ولسوالی کې ۲۵۹٦ ، قرغه ئی ولسوالی کې ۵۵۵۵ او په مهتر لام کې ۷۱۳۰ تنو ته چې په مجموعي ډول دغه خدمتونه ۲۲۹۲۷ تنو ته وړاندې شوي دي.




دماشومانو دمړیني کلنی کچه: په ۱۳۹٦ کال د ماشومانود مړینې اندازه په ولایتي روغتون کې ۷٦ دعلینګار ولسوالی روغتون کې ۵ او علیشنگ گمبه جامع روغتیایی مرکز ۱ چې مجموعي شمیره یې ۸۲ تنو ته رسیږي.



**د خوارځواکی کچه:** ۱۳۹۶ کال کې د پنځه کلن ځخه کم عمره ماشومانو کې حاده شدیده سؤتغذیه ۹۳٦۸ او د پنځه کلن ځخه کم عمره ماشومانو کې حاده منځنی سؤتغذی تعداد ۲۳٦۵۰ چې مجموعه یې ۱۳۰۱۸ ته رسیږی.




**دروغتیا سکتور کلنی پرمختیایي بودیجه:** د لغمان ولایت ټوله کلنی پرمختیایي بودیجه (لړترلړه د پنځو کلونو لپاره) ۷۷٦۰۳۷۳٦ افغانی او دولایت دتولې کلنی پرمختیایي بودیجې د لګښت کچه په پنځه کلونو کې ٦۷۵۰۴۸۳۰ افغانیو ته رسیږي.

**د روغتیا په سکتور کې نا دولتی مرستندویه موسسې او پرمختیایي ګډونوال برخه:** په اوسني وخت کې په لغمان کې شپږ نا دولتي مرستندویه موسسې فعالیتنونه ترسره کوي چې عبارت دي له،SCA،ARCS،CWSA ، د روغتیا نړیوالہ شبکه، ADA او UNICEF ځخه.

د مرکز او ولسوالیو د روغتیایی خدمتونو په هکله تفصیلي معلومات په لاندې جدولونو کې ځای پر ځای شوی دي:

| شمیره | ولسوالی/ښار | د روغتیایي مرکز ډول | د روغتیایي مرکزونو شمیر |
|---|---|---|---|
| ۱ | مرکز | ولایتي – حوزه یي روغتون | ۱ |
| ۲ | ولسوالي | CHCیا جامع روغتیایي مرکز | ۹ |
| ۳ | مرکز او ولسوالي | BHCیا بنسټیز روغتیایي مرکز | ۱۸ |
| ۵ | مرکز او ولسوالي | HSCیا فرعي روغتیایي مرکز | ۳۳ |
| ٦ | د ولسوالی روغتون | DHیا د ولسوالی روغتون | ۱ |
| ۷ | مرکز او ولسوالي | MHTیا ګرځنده روغتیایي تیم | ۹ |
| ۸ | دولایت په سطحه روغتیایي پوستي | روغتیایي پوستي | ۴۴۷ |

د پوهنې د سکټور د اوسني وضعيت ارزونه : د لغمان په ولايت کې ټولټال ۲۹۸ بابه تعليمي او تحصيلي مراکز شتون لري چې له دې جملې څخه لومړني ښوونځي (۸۴)بابه منځنۍ ښوونځي (٦١) بابه،ليسې (۱۲۱) بابه، د ښوونکو د روزنې د حمايوي مرکز په ګډون (۵) بابه، تخنيکي اومسلکي (۲) بابه ، انستيتيوتونو ٦ بابه، د اسلامی زده کړو مرکزونه د يو باب دارالعلوم په ګډون (۱۷) بابه، او سوادحياتي اړوند (۲) بابه مراکز چې يو يې په مرکز کې په يو ښوونځي کې د څلورم ټولګي څخه تر نهم ټولګي پورې چې مجموعاً (۲۰۴) تنه نارينه زده کوونکي لري او بل يې په عليشنګ ولسوالی کې وجود لري تراوسه پورې فعاله ندی او په نږدې راتلونکي تعليمي کال کې دسنبلې په مياشت کې فعاليږي.




**سواد زده کړه:** دسواد زده کړې آمريت په خپل تشکيل کې (۲) بابه دسوادحياتی ښوونځي لري يوباب يې په مرکزکې اويوباب يې دعليشنګ په ولسوالی کې شتون لري چې دمرکز په ښوونځي کې د(۴) ټولګي څخه تر(۹) ټولګي پورې تدريس کېږي چې مجموعي زده کوونکي يې (۲۰۴) تنه نارينه دي او د عليشنګ د سوادحياتی ښوونځی تر اوسه پورې فعال ندی په راتلونکي ۱۳۹۷ تعليمي کال کې د سنبلې مياشت کې فعاليږي. دسواد زده کړې آمريت په مرکز او پنځو ولسواليوکې (۱۴٦) بابه دولتي کورسونه لري. (۹۸) بابه يې د نارينوو او(۴۸) بابه يې د ښځينو شاګردانو لپاره فعال دي. د شاګردانو ټول تعداد يې(۲٦۴۵) تنه دی چې لدې جملې څخه (۸۲۴) تنه ښځينه او(۱۸۲۰) تنه نارينه زده کوونکي تر روزنې لاندې دي. بر علاوه (۱۹۴۰) کسان بېلابېلو د سواد زده کړو موسساتو ترپوښښ لاندې نيولي دي چې (۱۰۲۰) تنه ښځينه او(۹۲۰) تنه نارينه په کورسونو کې تر روزنې لاندې دي.

**د ۱۵ کلونو څخه د کم عمره ماشومانود داخلي کچه:** په ټولو ښوونيزو بنسټونو کې د(۱۵) کلونو څخه د کم عمره ماشومانو د شموليت کچه ټولټال (۱٦۹۱۳۹) تنه ده چې (۱۵۹۸۱۸) تنه يې دعموميې زده کړوپورې مربوط دی چې لدې جملې څخه (٦۵۰۷۵) تنه يې انجونې تشکيلوي.

**په ښونځیو (لومړنیو، منځنیو او لیسو) کې د نارینه او ښځینه زده کونکو د شتون نسبت:** په لغمان ولایت کې ټولټال (۱۸۴۷۳۸) تنه په ټولو ښوونیزو بنسټونوکې په زده کړه بوخت دي چې (۷۱٦۲۹)تنه یې انجونې او ۱۱۳۱۰۹ یې هلکان تشکېلوي.

## په ښونځیو (لومړنیو، منځنیو او لیسو) کې د نارینه او ښځینه زده کونکو د شتون نسبت




د تحصیلي کچې(لسانس، ماستری، دکتورا) په پام کې نیولو سره دخپل ولایت دښوونکو اواستاذانو سلنه(٪):

| د تحصیلي کچې(لسانس، ماستری، دکتورا) په پام کې نیولو سره د لغمان ولایت دښوونکو اواستاذانو سلنه | | |
|---|---|---|
| تحصلي درجه | تعداد | فیصدي |
| ماستر | ۲ | ۰,۰۴۸ |
| لسانس | ۲۹۱ | ۷ |
| خوارلسم پاس | ۲٦۰۰ | ٦۲,۴۸ |
| دولسم پاس | ۱۲٦۸ | ۳۰,۴۷ |
| ټول ټال | ۴۱٦۱ | ۱۰۰ |

**د (لومړنیو، منځنیو اولیسو) حالت :** دلغمان ولایت پوهنې ریاست اړوند لومړنې ،منځنې اولیسې فعلاً (۱۷۷)بابه ودانی لري. بر علاوه هغه لومړنی ، منځنی اولیسې چې فعلاً ودانیو ته ضرورت لري تعداد یې (۱۲۱)بابو ته رسیږي.

**د تیرو پنځوکلونولپاره دپوهنې د سکتور ټوله کلنۍ پرمختیايي او لګول شوې بودیجه:** دلغمان ولایت پوهنی ریاست ته په تیرو(۵) کلونوکې(۱۹۲۰٦۹۲۸۵)افغانۍ بودجه ورکړل شوې ده چې له دې جملې څخه (۱۸۰۸۷٦٦۷۱)افغانۍ په مصرف رسیدلې ده.

## د تیرو پنځوکلونولپاره دپوهنې د سکټور ټوله کلنۍ پرمختیایي او لګول شوي بودیجه




**د پوهنې په برخه کې د خصوصي پانګونې کچه:** لغمان د پوهنې لخوا د اصلی مراحلو تر تکمیلیدلو وروسته تر اوسه پورې(۱۰) بابه خصوصي ښوونځي تاسیس او د مؤسسینو لخوا پرې پانګونه شوې ده چې کلنۍ عواید یې د مالیاتو له بابته د دولت حساب ته انتقال شوی دی.

**د پوهنې په برخه کې نا دولتي مرستندویه موسسې او پرمختیایي ګډونوال:** په لغمان ولایت کې یونیسف ،سویډن کمیټه، NRC، CWS، ای ای سی،ستاره عرفان،WFP ، وارچایلډ،اویک، یونسکو، HHRD او GIZ فعالیت کوي.

## لغمان پوهنتون:

لغمان پوهنتون د لغمان علم پال ولسونو په مکرره غوښتنه د وخت جمهور رئیس له خوا په ۱۳۸۹ هـ ش کال منظور شوی، نومړی پوهنتون پدې ولایت کې یوازینې دولتي پوهنتون دی او خصوصي پوهنتون پدې ولایت کې شتون نه لري. فعلاً څلور پوهنځي، ۱۴ څانګې، ۷۱ تنه نارینه او یو تن ښځینه استاذان چې مجموعا ۷۲ تنه ، ۴۲ تنه اداری پرسونل ، ۲۸۱۳ تنه محصلان چیې ددې جملې څخه یې ۲۸ تنه محصلانې دي او په درې دورو کې یې ٦۱۸ تنه فارغان ټولنې ته تقدیم کړي دي. پوهنتون د مهترلام ښار د سلطان غازي ښارګوټې شمالي لورې ته په ۴۷۴ جریبه ساحه کې موقعیت لري، د پوهنتون د ماستر پلان مهندسي نقشه جوړه ده او پاتې کار یې جریان لري.

## د پوهنتون ریاست اوسنی حالت :




د ولایت د پوهنتون ریاست د زده کوونکو شمیر د پوهنځیو په تفکیک :




د پوهنتون د استادانو د تحصیلي سویې جدول:

| شمیره | پوهنځئ | د نارینه شمیر | د ښځو شمیر | ټولټال |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | انجینیري | ۴۰۵ | ۰ | ۴۰۵ |
| ۲ | کرنه | ۹۳۴ | ۰ | ۹۳۴ |
| ۳ | ادبیات | ۱۰۷۱ | ۱۷ | ۱۰۸۸ |
| ۴ | ښوونه او روزنه | ۳۷۸ | ۱۱ | ۳۸۹ |
| | ټولټال | ۲۷۸۸ | ۲۸ | ۲۸۱۶ |

## د تحصیلي درجې په تفکیک سره د استادانو شمېر

| شمېره | پوهنځی | ډاکتر | | ماسټر | | لیسا نس | | ټولټال | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | ټولټال |
| ۱ | ادبیات او بشري علوم | -- | - | ۴ | - | ۱۹ | - | ۲۳ | - | ۲۳ |
| ۲ | کرنه | - | - | ٦ | - | ۲۳ | - | ۲۹ | - | ۲۹ |
| ۳ | پوهنه او روزنه | - | - | - | - | ۱۲ | ۱ | ۱۲ | ۱ | ۱۳ |
| ۴ | انجینري | - | - | ۲ | - | ۴ | - | ٦ | - | ٦ |
| | ټولټال | ۰ | ۰ | ۱۲ | ۰ | ٦۰ | ۱ | ۷۱ | ۱ | ۷۲ |

د بنسټونواوطبیعي سرچینو د سکټور د اوسني وضعیت ارزونه:

لغمان ولایت ۳۱٦ کېلومتره سرک لري چې ددې جملې څخه  د کابل جلال اباد لویه لار د درونټي څخه تر استحکام پل پورې ۵۰ کېلومتره ، د مهترلام قرغیي ۱۸ کېلومتره ، د مهترلام علینگار ۲۲ کېلومتره ، د مهترلام الیشنگ ۲۰ کېلومتره ، د الیشنگ دولت شاه ۲۴ کېلومتره او دجوگي پل څخه تر قرغیو ولسوالۍ پورې ۱۴ کېلومتره ) ټولټال ۱۵۴ کېلومتره سرکونه په اساسي شکل اسفالت شوي دي. همدارنگه د عمرزیو ۸,۸ کېلومتره ، د بادپښ مهترلام لومړۍ برخه ۲۵ کېلومتره د یاد سرک دوهمه برخه ۲۰ کېلومتره ، د مهترلام حلقوي سرک ۴ کېلومتره ) ۵۷,۸کېلومتر سرکونو د اسفالت کولو چارې رواني دي .همدارنگه د لغمان پوهنتون ۵ کېلومتره سرک تخنیکي سروې شوې او ډېر ژر به یې عملاً د اسفالت کولو کار پیل شي. د. ۱۲۰ کېلومتره په اندازه سرکونه خام دي او پخولوته یې اړتیا لیدل کېږي.

دا باید ذکر شي چې لغمان ولایت هوایي ډگر نلري خود ځمکني ترانسپورت له لارې د لغمان مرکز له ټولو ولسوالیو ، کلیو او ښارونوسره ارتباط لري له بلې خوا په زرگونه خلک هره ورځ د ځمکني ترانسپورت له لارې گاونډیو ولایتونو سره تگ او راتگ کوي چې ددې لارې دولت ته ٤۲ میلونه افغانۍ عواید رسیدلي دي.

**بریښنا:** اوس مهال په لغمان ولایت کې یو سب ستیشن شتو ن لري چې د (۱٦) میگاواټه په ظرفیت یو پایه پاور ترانسفرمر په کې نصب دی.  په ټوله شبکه کې (۹۲) مختلف الطاقت ترانسفرمرونه نصب شوي دي چې دټولو دولتي اداراتو په شمول د مهترلام ښار او قرغیی ولسوالۍ پورې اړوند ساحوکې په مجموعې ډول (۱۵۰۰۰) مشترکېن د بریښنا له نعمت څخه برخمن دي . د لغمان په ولایت کې د شهیدان بابا نه تر سرخکانو پورې د بریښنا رسوني پروژه چې تقریباً (۵۰۰۰)کورونو ته بریښنا رسوي کاریې جریان  لري او هم دبادپښ په ولسوالۍ کې د بریښنا رسوني شبکه (۳۰۰۰) کورونو ته بریښنا رسوي کاریې جریان لری.

**معدن:** د لغمان په ولایت کې د خیرو خیلو څخه تر مشعل کمر ساحې پورې د ودانیزو موادو ( شگې ) معدن د (۱۰) کېلومتر مربع په اندازه د پترولیم او معادنو وزارت له لوري سروې شوې ده چې په سلگونه ټنه ظرفیت درلودونکې دی دکال (۸۷۸٤۰) متر مکعب د ودانیزو موادو ( شگې او تعمیراتي ډبرو) معدنونه استخراجیږي. د لغمان ولایت د معادنو کلنې عاید (۲۱۹۸۵۰۰) افغانۍ دی او (۱۰۰) کسه په معادنو کې په کار مشغول دي.  د هغه ارقامو پر بنسټ چې معادن امریت لخوا وړاندې شوي، په لغمان ولایت کې د معدنونو او طبیعي سرچینو د انکشاف او استخراج په برخه کې تر سره شوي فعالیتونه په لاندې جدول کې ښوول شوي دي

| شماره | معدنونه | موقعیت | شمیر | ډول | د ښار له مرکز څخه واټن | پوټنشال حجم په (ټن) | د هر ټن ارزښت | د معادنو وضعیت | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | سروې شوې | تر سروې لاندې | ناسروې شوې | تر قرارداد لاندې | تر استخراج لاندې |
| ۱ | ساختماني مواد | مرکز او د قرغیو ولسوالۍ | دری چک پواینته | شګه، جغل او تعمیراتي تیګې | ( ۲۰ ) کېلو متره | ۸۷۶۰۰ تنه په کال کي | ۲۵ افغانۍ | هو | | | هو | |
| ۲ | ساختماني مواد | د قرغیو ولسوالۍ اړوند درونټه د تیلو د پمپ مقابل لوري ته | یو | تعمیراتي ډبرې | ۳۰ کېلو متره | ۲۰۰۰۰ تنه په کال کي | ۲۵ افغانۍ | هو | | | هو | |
| ۳ | تزئیني ( مرمر) | د الیشنګ ولسوالۍ د شګې او ارینې کلې | یو | مرمر | ۳۰ کېلو متره | تخمیناً ۵۰۰۰۰ تنه په کال کي | ۵۰۰ افغانۍ | | | هو | | |
| ۴ | ساختماني مواد | مرکز او د قرغیو ولسوالۍ | دري چک پواینته | شګه، جغل او تعمیراتي ډبرې | مرکز او د قرغیو ولسوالۍ ( ۲۰ ) کېلو متر | ۸۷۶۰۰ تنه په کال کي | ۲۵ افغانۍ | هو | | | هو | |

د ولایتی شورا د معلوماتو په اساس، یاده شورا په میاشت کې یو ځل له ټولو ټولنیزو نهادونو لکه د علماو شورا، د ځوانانو ټولنی، د ژورنالستانو پراختیایي او انکشافی شوراګانی او داسې نورو مدنی ټولنو له استازو سره غونډې کوي، چې د ولایتي شورا او مدنی ټولنو تر منځ د ښې همغږۍ ښکارندوي کوي.

**سیاسي نمایندګی:** په لغمان ولایت کې هیڅ کومه سیاسي نمایندګي وجود نلري.

**د ملګروملتونو د سازمان او د پرمختیایي ملګرو هیوادونو د دفترونو او نمایندګیو شتوالی :** په لغمان ولایت کې د ملګروملتونودسازمان اودپرمختیایي ملګروهیوادونو کومه نمایندګي او مشخص دفتر وجود نلري.

د کوچیانو حالت:

د زده کړې په برخه کې: د لغمان ولایت په مرکز کې وچ شمکټ،د قرغه يي ولسوالۍ کې ګمبیري او د علیشنګ ولسوالۍ کې خان بابا درې لومړني ښوونځي منظور دي چې (۴۷۲) هلکان او (۲۸۱) انجونې پکې په زده کړو بوخت دي. او د سواد اموزۍ په برخه کې په مرکز وکیل اباد کلي کې (۵۰) هلکان، د قرغه يی ولسوالۍ ګمبیري کلي کې (۲۵هلکان او ۲۵ انجونې) ، د علیشنګ ولسوالۍ د شیخانو په کلي کې (۵۰) هلکان او د باد پښ ولسوالۍ په اندروړ په کلي کې (۵۰) هلکان په څلورو محلو کې جمله (۲۰۰) زده کوونکي د سواد اموزۍ زده کړې کوي.

د روغتیا په برخه کې: د صحت عامې او روغتیا محترم وزارت په چوکاټ کې انساني سیار کلینک ددې ولایت د کوچیانو لپاره منظور وو.

او د مالدارۍ په برخه کې د کوچیانو چارو د سمون امریت په همکارۍ سره د مدیرا (MADERA) مؤسسې لخوا د لغمان ولایت د کوچیانو ( ۲۳۶۰۰ ) مالدارۍ ته واکسین تطبیق شوي دي.

د تذکرو په برخه کې: د ۱۳۹۷-۱۳۹۶ کال کې د قانون په چوکاټ کې په د مختلفو محلو کوچیانو د دې امریت په همکارۍ د تابعت تذکرې ترلاسه کړې دي.

د عرایضو په برخه کې: د کوچیانو د راستنېدونکو مهاجر کوچیانو د رهایشي نمرو ترلاسه کولو او همدا رنګه د ملي اردو د جلبُ او جذب په موخه د مربوطه سرخیل دتائید او تصدیق په هکله مربوطه مرجع ته اطمنان ورکړل شوی دی.

د حوادثو په برخه کې: د زیانمن شوو کوچیانو کورنیو سره د دې امریت په هلو ځلو د حوادثو محترم ریاست او همدارنګه د (IMC) مؤسسې لخوا د خوراکي او غېري خوراکي توکو مرستې شوي دي.

د شخړو په برخه کې: په دې روان کال کې د کوچیانو خپل منځي او ځايي خلکو ترمنځ ( ۸ ) شخړې او لانجې د کوچیانو چارو د سمون امریت او محلي شورا په ګډې همکارۍ په مختلفو برخو کې حل کړي دي. چې په لنډ ډول ترې یادونه کیږي:

- د مرکز مربوط مهترلام بابا په دشته کې د تره خیل کوچي قوم او ابراهیم خیل کوچي قوم ترمنځ د څړځایونو په سر لانجه او شخړه.
- د مرکز مربوط چهاردهي سیمه کې د ځايي خلکو او ابراهیم خیل کوچي قوم ترمنځ د اوبو په سر لانجه او شخړه.
- د مرکز مربوط تبې کونج کې د تره کوچي قوم خپل منځي د قتل په سر لانجه او شخړه.
- د قرغیو ولسوالۍ مربوط سرخکانو په سیمه کې د ناصر کوچي قوم او جبارخیل کوچي قوم تر منځ د ځمکې په سر لانجه او شخړه.
- د علیشنګ په ولسوالۍ کې د اوریا خیل کوچي قوم او تره خیل کوچي قوم د اوبو په سر لانجه او شخړه .
- د قرغیو ولسوالۍ مربوط د کمبیري په ډاګ کې د جان خیل کوچي قوم او پاینده خیل کوچي قوم د ځمکې په سر لانجه او شخړه .
- د لغمان ولایت د کوچیانو چارو د سمون امریت او د محلي شورا په همکارۍ د قرغیو ولسوالۍ د کا کڅ په ساحه کې د ترافیکي پېښې په اساس چې پکې یو نفره مړه او یوه نفره زخمي شوې وه د یادې پېښې لانجه حل او فصل شوه.
- د لغمان ولایت د بادپښ ولسوالۍ د ګروچ مربوطه کلي د میاخیل کوچي قوم د قتل موضوع د یاد امریت او د محلي شورا په همکارۍ حل او فصل شوې ده.

د لغمان ولایت په سطحه کوچیان (۵۰) رسمي او (۲۵۰) مکتوبي قومي سرخیلان لري. او د مشکلاتو په برخه کې د دې امریت سره پوره همکار دي. د لغمان ولایت په سطحه یوه محلي شورا فعالیت کوي. د کوچیانو چارو د سمون امریت لخوا د ستونزو او مشکلاتو په موخه پلان جوړ شوی دی. چې د زده کړې، روغتیا، مالدارۍ، د صحي اوبو څاه ګانو، د سواد زده کړو، حرفوي زده کړو او همدارنګه د کوچیانو د ستونزو او مشکلاتو لپاره د حل په موخه د محترمو مقاماتو او اړونده ادارو ته رسماً پیشنهادات شوي دي.

درسنیوفعالیت:

ځینې پوهان وايي، چې رسنۍ د دیموکراسۍ څلورم اصل دی او د دیموکراسۍ سلامتیا لپاره معلوماتو ته لاسرسی ډېر اړین دی. رسنۍ د نړۍ په کوچنې کولو کې ستر لاس لري د بېلا بېلو وسیلو له لارې که هغه تصویري رسنۍ دي که غږیز دي او که چاپي دي او یا هم انټرنیټ دی خلک کولای شي د ډېرو خلکو سره و نښلول شي. سربیره پر دې، رسنۍ موږ د نړۍ د پېښو په هکله خبروي، رسنۍ د یوې ټولنې د هنداړې حیثیت لري، چې د ټولنې په هکله هر څه په کې منعکس کېږي.

که معلوماتو ته لاسرسی موجود وي، خلک به مسؤلانه او پر معلوماتو ولاړ غوراوی وکړي نه دا چې په غفلت او بې خبرۍ کې عمل وکړي، بلکه دا چې، معلومات د کارونو د کنټرول او نګرانۍ دنده تر سره کوي او دا یقیني کوي، چې ایا ټاکل شوی استازی خپلې وعدې او مسؤلیتونه تر سره کوي او کنه او هم ایا د هغه چا غوښتنې په پام کې نیسي او کنه چې دوی یې ټاکلي.

البته، د رسنیو دنده یوازې له پېښو څخه د خلکو د خبرولو پورې محدوده نه ده، اصلآ رسنۍ په ذهنیتونو باندې اغېز لري، په نړۍ کې د بېلا بېلو موضوعاتو په هکله، چې موږ څرنګه فکر کوو او په کوم ډول یې درک کوو ډېر کله دې ته د رسنیو له خوا شکل ورکول کېږي.

په لغمان ولایت کې د دولتي رسنیو سربیره یو شمېر سیمه ییزې خپلواکې چاپي، غږیزې او تصویري رسنۍ هم فعالیت کوي. په لغمان ولایت کې دولتي رسنۍ له ملي راډیو، ملي تلویزیون، لغمان اونیزه ، نورلام، او ځوانان جریدې څخه عبارت دي.

هغه خپلواکې سیمه ییزې رسنۍ، چې په لغمان کې فعالیت کوي په لاندې ډول دي:

| شمېره | د رسنۍ نوم | د رسنۍ ډول | چلونکې شخص یا اداره |
|---|---|---|---|
| ۱ | کاوون غږ | راډیو | ولایتي بورډ |
| ۲ | پامیر | راډیو | ملي اردو |
| ۳ | روښا ن | مجله | معآرف |
| ۴ | خیبر نوښت | رادیو | حمیدالله خیبر |
| ۵ | رغون | رادیو | کاوش ننګیال |
| ۶ | ځوانان | جریده | ځوآنانومدیریت |
| ۷ | کاوون | مجله | دآنش خپرندویه ټولنه |
| ۸ | ځاله | مجله | حبیب الله تقوی |
| ۹ | اورښت | مجله | ثناګل تره خیل |
| ۱۰ | زرکمر | جریده | ځوان انقلابي |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۱ | لبنته | مجله | عمران الله خنجر |
| ۱۲ | ملي ځوانان | مجله | محمداغا مبارز |
| ۱۳ | لش | مجله | میرویس خواخوږی |
| ۱۴ | علینگار | مجله | محمد نادر مخور |
| ۱۵ | مهترلام | جریده | بهار غازي |
| ۱٦ | سنگر | مجله | فیضان الله پټان |

پرته له دې ځینې غږیز او تصویري رسنۍ هم شته، چې له لغمانه بهر خپروني کوي، خو لغمان یې هم تر پوښښ لاندې راوستی او فریکوینسي یې په لغمان کې پیدا کېږي، چې دغه رسنۍ د اریانا تلویزیون، بي بي سي راډیو، ازادۍ راډیو،انعکاس راډیو، د افغانستان ملي راډیو تېویزیون او د ننگرهار ملي راډیو څخه عبارت دي.

په لغمان کې رسنۍ مهالنۍ غونډې سره لري خو له دې پرته د همغږۍ کوم ځانگړی میکانیزم شتون نه لري او نه داسې کوم نهاد شته چې د ټولو رسنیو لپاره یوه مرکزي ادرس و اوسي.

مذهبی او دیني چارې:

دا چې مذهب د خلکو د حقوقو جوړولو تر ټولو بنسټیز قوت گڼل کیږي، له نیکه مرغه افغاني ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده او د لغمان ولایت ډېری اوسیدونکي حنفي مذهبه دي، دېته ډېره اړتیا ده چې مذهبي او اسلامي شعایرو ترسراوي لپاره مناسب امکانات موجود وي.

په لغمان ولایت کې ټول ټال ۲۱۰۸ جوماتونه موجود دي چې اکثریت یې اساسي تعمیرات نلري. بر علاوه د حج او اوقاف ریاست پر وینا، په لغمان ولایت کې ۵۰۰۰ تنه علما موجود دي، چې د لغمان اوسیدونکو ته په دیني مدرسو او جوماتونو کې د اسلامي پوهاوي ترسره کولو کې بوخت دي، خو د ښځو لپاره په جمع د لمانځه ادا کولو اسانتیا نشته.

په لغمان ولایت کې کومه تکایا خانه او حسینه وجود نلري. همدارنگه په لغمان کې یو مذهبي کتابتون شته چی د لغمان ولایت په حج او اوقافو ریاست کې واقع دی.

د یاد ریاست د ارقامو پر بنسټ، د حج او اوقاف ریاست سره تر دې مهاله لس بابه دیني مدرسو ته د فعالیت جواز ورکړل شوي برعلاوه د ۷۸ په تعداد مدارس او دارالحفاظون د لغمان د حج او اوقافو ریاست سره ثبت او راجستر دي. چې د دغه شمیر دیني مدارسو څخه ۵ سلنه یی مجهز فزیکي ساختمان لري.

په لغمان ولایت کې د مدني ټولنو له خوا عامه وگړو ته د دین پوهنې په برخه کې عامه پوهاوی کیږي همدارنگه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي او د نشه یي توکو د زیانونو په اړه غونډې دایریږي او خلکو ته مالومات ورکول کیږي.

د یاد ولایت د حج او اوقافو ریاست د معلوماتو له مخې په دې ولایت کې د حاجیانو لپاره د حج په ورځو کې د راجمع کېدلو او تم کېدلو لپاره کوم مناسب ځای نشته. البته د یاد ریاست لخوا د حج په ورځو کې د دینی استادانو په واسطه حاجیانو ته د حج د مناسکو عملي او نظري روزنیز پرواگرام په لار اچول کېږي.

د حج او اوقافو ریاست وایي چې په دې ولایت کې تل د دینی موعظو په ترتیبولو سره د علماو لخوا خلکو ته د نورو موضوعاتو تر څنګ د اخلاقي فساد په هکله هم ویناوې کېږي خو په ځانګړې توګه د اخلاقي فساد په هکله کوم ځانګړی پروګرام په لار نه دی اچول شوی.

په لغمان کې د انجونو او هلکانو ۱۵۰۰ درسي حلقې په مساجدو کې فعالې دي او کوچنیانو ته پکې دینی ښوونې تر سره کېږي، اخو د لغمان د علماو شورا وایی چې په لغمان کې د ښوونځي ښخه کم عمر لرونکو ۸۰٪ اویا په سلو کې کوچنیانو ته په مساجدو کې د علماو لخوا مذهبی ښونه کېږي.

لاندې جدول د لغمان ولایت د حج او اوقافو ریاست سره د ثبت مدارسو او دار الحفاظونو تفصیل ښایی:

| شماره | د مدرسي نوم | موقعیت | | | زده کونکي | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | کلی | ولسوالي | ولایت | نارینه | ښځینه | |
| ۱ | مدرسه ذاکریه | نوزه قلعه | بادپښ | لغمان | ۳۸ | ۰ | **حلقه** |
| ۲ | مدرسه سفیه | قلعه شهزاده | // | // | ۲۹ | ۰ | // |
| ۳ | مدرسه فیض القران | قلعه بانده | // | // | ۲۰ | ۰ | // |
| ۴ | مدرسه حنفیه | جامع رود | // | // | ۳۰ | ۰ | // |
| ۵ | مدرسه تعلیم القران | جامع بره قلعه | // | // | ۴۰ | ۰ | // |
| ٦ | مدرسه تحفیظ القران | قلعه شیخان | مرکز | // | ۴۷ | | **دارالحفاظ** |
| ۷ | مدرسه دارالعلم احناف | ده ملخ | // | // | ۲۱۸ | | // |
| ۸ | حلقه قلعه میا | قلعه میا | // | // | ۸۰ | ۷۵ | **حلقه** |
| ۹ | مدرسه جامعه نعمانیه | مریم | // | // | ۱۲۰ | | **دارالحفاظ** |
| ۱۰ | مدرسه راحیمه | میابانده | // | // | ۹۰ | | // |
| ۱۱ | مدرسه نورلام | موسی خیل | // | // | ۱۹۳ | ۴۰ | **حلقه** |
| ۱۲ | مدرسه احمد بن سهیل | هرمل | // | // | ۳۱ | | **دارالحفاظ** |
| ۱۳ | مدرسه تعلیم القران | گمین | // | // | ۳۳ | | **حلقه** |
| ۱۴ | مدرسه ابوبکرصدیق | شهرنو | // | // | ۳۴ | ۴۰ | // |
| ۱۵ | حلقه قلعه فتح الله | قلعه فتح الله | // | // | ۳۰ | | // |
| ۱٦ | مدرسه مهترلام | شکرآباد | // | // | ۱۵۴ | | **مدرسه** |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | مدرسه فیض القران | سلطان غازی بابا | // | // | ۷۵ | | // |
| ۱۸ | حلقه ډیوه | ډیوه | // | // | ۴۳ | | // |
| ۱۹ | مدرسه ملک تاج گل | خا له خیل | // | // | ۴٦ | ۲۰ | // |
| ۲۰ | جامعه صدیقه | مسکین آباد | // | // | ۷۰ | ٦۰ | // |
| ۲۱ | مدرسه دارالعلوم اسلامیه | مرکز | // | // | ۸۰ | | // |
| ۲۲ | مدرسه فیض القران | شیږ گړ | // | // | ۹۴ | ۸٦ | **دارالحفاظ** |
| ۲۳ | مدرسه فیض القران | هرمل | // | // | ۱۲۰ | | // |
| ۲۴ | مدرسه تحسین القران | قلعه غلام خان | // | // | ۳۷ | | **حلقه** |
| ۲۵ | حلقه کمپ باباصاحب | بابا صاحب | // | // | ٦۵ | ۲۳ | // |
| ۲٦ | مدرسه ابو حنیفه | نوآباد | // | // | ۸۵ | ۳۲ | **مدرسه** |
| ۲۷ | مدرسه شمس العلوم | قلعه شیخان | // | // | ۷۷ | | **دارالحفاظ** |
| ۲۸ | مدرسه تعلیم القران | تیگری | // | // | ۳۸ | | **مدرسه** |
| ۲۹ | مدرسه خدیجهِ الکبرا | ده بغلک | // | // | ۱۰۰ | | **دارالحفاظ** |
| ۳۰ | مدرسه دارالعلوم شمنگل | شمنگل | // | // | ۸٦ | | **مدرسه** |
| ۳۱ | مدرسه دارالحفاظ مرکزی | قلعه سراج | // | // | ۵۲ | | **دارالحفاظ** |
| ۳۲ | مدرسه امام البخاری | شهرمهترلام | // | // | ۲۰۰ | | // |
| ۳۳ | مدرسه ابوزر غفاری | قلعه داماں | // | // | ۱۰۰ | | **مدرسه** |
| ۳۴ | مدرسه جامعه فرقانیه | علی خیل | // | // | ۸۷ | | // |
| ۳۵ | مدرسه امام ابوحنیفه | سنگر | الینگار | // | ٦۵ | | // |
| ۳٦ | مدرسه دینی نورسید | خواجه خیل | // | // | ۹۰ | | // |
| ۳۷ | مدرسه عبدالله ابن عباس | ادهار | // | // | ۱۱۹ | | // |
| ۳۸ | مدرسه دینی نورسیداناث | خواجه خیل | // | // | | ۵۴ | // |
| ۳۹ | مدرسه قلعه اعظم | اعظم قلعه | // | // | ۷۰ | | // |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۰ | حلقه پیتک | پیتک | دولت شاه | // | ۴۴ | ۴۱ | **حلقه** |
| ۴۱ | حلقه درسی دولت شاه | دولت شاه | // | // | ٦٠ | ۲۰ | // |
| ۴۲ | حلقه درسی زرکمر | زرکمرکوچیان | // | // | ۳۲ | | // |
| ۴۳ | حلقه درسی بومبی | بومبی | // | // | ۲۰ | ۱٦ | // |
| ۴۴ | حلقه ډره باغ | ډره باغ | // | // | ۳۴ | ۱۷ | // |
| ۴۵ | حلقه بنکړی | بنکړی | // | // | ۴٦ | ۲۲ | // |
| ۴٦ | حلقه مسجدنوره | نوره | // | // | ٦۷ | ۲۵ | // |
| ۴۷ | حلقه تعلیم دینی | حاجی قلعه | // | // | ۴۸ | ۱۸ | // |
| ۴۸ | حلقه درسي پیتک علیاء | پیتک علیاء | // | // | ٦۲ | ۲۰ | // |
| ۴۹ | حلقه درسی نیل خان | نیل خان | // | // | ۵۰ | | // |
| ۵۰ | مدرسه غازی آباد | غازی آباد | علیشنگ | // | ۱٦۷ | ۸۵ | **مدرسه** |
| ۵۱ | مدرسه ابوزرغفاری | هروړه | // | // | ۵۷ | ۱۴ | // |
| ۵۲ | مدرسه کاسیگر | کاسیکړ | // | // | ۲۰ | | // |
| ۵۳ | مدرسه بارکزی | بارکزی | // | // | ۷۹ | ۱۴ | // |
| ۵۴ | مدرسه تعلیم السلام | کوټالی | // | // | ۴۰ | | // |
| ۵۵ | مدرسه عمرفاروق | هروړه سفلی | // | // | ۷۴ | | // |
| ۵٦ | مدرسه جامعه اقصی | ماسموت | // | // | ۹۲ | | // |
| ۵۷ | مدرسه شیخانوته | شیخا نوته | // | // | ۸۱ | | // |
| ۵۸ | مدرسه جامعه نجیل | نجیل | // | // | ۳۸ | ۲۲ | // |
| ۵۹ | مدرسه تعلیم القران | شکرمان | // | // | ۵۷ | | // |
| ٦۰ | مدرسه تعلیم القران | سردارن | // | // | ۳۸ | ٦ | // |
| ٦۱ | مدرسه اسلام آباد | اسلام آباد | // | // | ۷۰ | | // |
| ٦۲ | مدرسه ابوحنیفه | خروتی | قرغه ئی | // | ۲۳ | | // |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦٣ | مدرسه حضرت جعفر | قلعه قاضی | // | // | ۱۹ | ۱۰ | // |
| ٦۴ | مدرسه حضرت عمر | فیروزآباد | // | // | ۲۹ | | // |
| ٦۵ | مدرسه حضرت عایشه | عزیزخان کڅ | // | // | | ۹۰ | **دارالحفاظ** |
| ٦٦ | حلقه زیړاني | زیراني | // | // | ۱۲۳ | | **حلقه** |
| ٦٧ | مدرسه دینی ومذهبی | ډوبي | // | // | ۴٦ | ۴٦ | **مدرسه** |
| ٦٨ | حله غونډی | غونډی | // | // | ۵۲ | | // |
| ٦٩ | مدرسه امام ابوحنیفه | محمدعلی کڅ | // | // | ۴۰ | ۳۸ | // |
| ۷۰ | مدرسه تره خیل | تره خیل | // | // | ۱۳۱ | ۵۲ | **دارالحفاظ** |
| ۷۱ | حلقه دهمزنگ | دهمزنگ | // | // | ۲۱ | ۵۱ | **حلقه** |
| ۷۲ | حلقه ده محفوظ | ده محفوظ | مرکز | // | ۷۰ | | // |
| ۷۳ | مدرسه دانش اباد | دانش اباد | // | // | ۷۵ | | **مدرسه** |
| ۷۴ | حلقه لمړی | لمړی | دولتشاه | // | ۷۵ | | **حلقه** |
| ۷۵ | مدرسه چلمتې | چلمتې | مرکز | // | | ٦۰ | **دارالحفاظ** |
| ۷٦ | مدرسه دینی دارالارقم | فیروز اباد | قرغه ئي | | ۸۰ | | **دارالحفاظ** |
| ۷۷ | دارالعلوم لغمان | دړ | مرکز | | ۷۵ | | **مدرسه** |
| ۷۸ | مدرسه خالد بن ولید | پشه ئي | مرکز | | | | **دارالحفاظ** |

ورزش او بدني روزنه :

لغمان ولایت نه یواځې د پوهې او قلم په ډګر کې مخکښ ولایت دی، بلکې د لوبو په ډګر کې هم لوړ او مخکښ نوم لري، د لوبو په بېلابیلو فدراسیونونو کې د هېواد په کچه اتلان لري چې د نړۍ هر ګوټ ته د امن او سولې پیغامونه رسوي. اوس مهال لغمان ولایت کې د کریکټ د یو لوی لوبغالي د جوړېدو چارې هم رواني دي او ولایتي اداره پلان لري چې په مرکز او ولسوالیو کې د ټولو فدراسیونونو لپاره مناسب د لوبو ډګرونه جوړ کړي. د لغمان په ولایت کې لاندې ورزشي کلپونه او د ورزشکارانو فداراسیونونه موجود دي چې تفصیل یې په لاندی جدول کې ذکر شوی:

| شمېره | د فدراسیون نوم | د فعاله کلبونو شمېر | په منځنې ډول د ورزشکارانو ټولټال شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | فوټبال | ۲۰ | ۸۲۰ |
| ۲ | والیبال | ۱۲۵ | ۱۴۵۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳ | باسکټبال | ۳ | ٦۵ |
| ۴ | سیمه ییز غیږ/کشتي یا بل کورش | ۵ | ۳۵۰ |
| ۵ | کونګ فو | ۳ | ۲۲۰ |
| ٦ | F.W.T تکواندو | ۸ | ۱۰۵۰ |
| ۷ | کاراته | ۴ | ۲۰۰ |
| ۸ | ووشو | ۳ | ۱۲۰ |
| ۹ | اندام روزنه | ۴ | ۱۲۰۰ |
| ۱۰ | بوکس | ٦ | ۸۵۰ |
| ۱۱ | شطرنج | ۴ | ۸۵ |
| ۱۲ | موتای | ۳ | ۲۰۰ |
| ۱۳ | کېک بوکسنګ | ۴ | ٦۸۰ |
| ۱۴ | جمناستیک | ۳ | ۱۸۰ |
| ۱۵ | معلولین | ۴ | ۲۲۰ |
| ۱٦ | ځغاسته | ۴ | ۴۰ |
| ۱۷ | بایسکل چلول | ۳ | ۲۵ |
| ۱۸ | کرکټ | ۲۱۹ | ۳۰٦٦ |
| ۱۹ | سنوکر او بلیارد | ۲ | ۱۲۰ |
| ۲۰ | بډمنټون | ۴ | ۳۰ |

## ټولنیز خوندیتوب:

د اوسیدو روغ او سالم چاپیریال ته لاس رسی: هو، داچې په ټوله کې لغمان یو زرغون ولایت او په زیاتې اندازې سره د سطحي او ځمکي لاندی اوبو درلودونکی دی او د اوبو ، خاورې ، هوا او صوتي ککړتیا د تولید کچه پکې خورا کمه ده او همدارنګه د ژوند چاپیریال ساتنې اداره د یوې خپلواکې ادارې په توګه د هیواد په کچه د ژوند چاپیریال په ساتنې او احیاء پورې د اړوندو چارو د انسجام ، نظارت او د چاپیریال ساتنې د قانون د حکمونو د تطبیق مسؤوله ده نو په همدې بنسټ د لغمان ولایت د ژوند چاپیریال ساتنې ریاست د لغمان ولایت ټولو اوسیدونکو ته د یو روغمند ، پاک او تلپاتې چاپیریال د رامنځته کېدو په موخه د اړوندو اداراتو سره په همغږۍ لاندی پلانونه او کړنې ترسره کړې او تر کار لاندی یې لري :

۱ـ د څارنې او پلټنې د همغږۍ ګډ پلان: د یاد پلان پر بنسټ (د ټولو اصنافو ، فابریکو ، ښارګوټو ، کارخونو ، د تیلو او ګازو د پمپ استیشنونو او داسی نورو فعالیتونو څخه څارنه او پلټنه ترسره شوې ده) .

۲ـ د عامه پوهاوي د غونډو ګډ پلان : د یاد پلان پربنسټ د لغمان ولایت په کچه له ښوونځیو ، پوهنتون ، مدرسو ، انستیتونو ، دولتی ادارو کارکوونکو ، سیمه ایز شوراګانو او داسی نورو سره د عامه پوهاوي غونډې جوړې شوې چې لدې لارې (۱۵۰۰) تنه د چاپیریال ساتنې د رضاکارانو په توګه د مرکز او ولسوالیو په کچه جذب شوي چې یاد ریاست سره په رضاکارانه ډول مرسته کوي د چاپیریال ساتنې موخې او پیغامونه خلکو ته رسوي او همدارنګه د خپلو سیمو چاپیریالي

ستونزې او مشکلات د چاپیریال ساتنې له ریاست سره د حل لارې د پیداکولو په موخه شریکوي او د ولایت په کچه تر (۵۰) پورې د چاپیریال ساتنې د رضاکارانو شوراګانې جوړې شوې دي .

۳- د نشراتو د ګډ پلان په اساس خلکو ته د لغمان له ټولو دولتي غړیزو، انځوریزو او چاپي رسنیو له لارې عامه پوهاوي ورکول شوی او د چاپیریال ساتنې اړوند ګټوري خپرونې په لاره اچول شوې، ترڅو په خلکو کې د چاپیریال ساتنې فرهنګ دود او یو ښکلې پاک او هوسا چاپیریال رامنځته شي .

۴- د چاپیریال ساتنې د قانون او مقررو د تطبیق په موخه له روغیتائی مرکزونو (دولتی او غیر دولتی روغتونونه او کلنیکونه ، انساني او حیواني درملتونونه ، روغتیائی کتنځایونه) څخه څارنه ترسره شوې ده .

۵- په دولتي او غیر دولتي بنسټونو کې د چاپیریال ساتنې دقانون او پینځه نافذه مقررو د تطبیق څخه څارنه شوې ده .

٦- د شنو او تفریحی سیمو د رامنځته کېدو او پراختیا ، د اکسیجن او تازه هوا تولید او د ککړتیا څخه د مخنیوي په موخه د ځنګلونو د پریکولو او د کرنیزو ځمکو د تخریب څخه د مخنیوي په موخه څارنه ترسره شوې او پدې اړوند د اړونده اداراتو سره په همغږۍ طرحې او منظم پلانونه ترتیب او پلي شوي او همدارنګه د نهالګیو د ایښودلو کمپاینونه او داوطلب حشرونه د منظمو طرحو او پلانونو پر بنسټ په لاره اچول شوې .

۷- د لغمان ولایت په کچه د زهري موادو د استعمال ، برقي شارت او طوفاني چجو او جالونو پواسطه د کبانو او الوتونکو د غیر قانو او ناوړه ښکار څخه د مخنیوي په موخه د ښکاري سیمو څخه په دوامداره توګه څارنه او پلټنه ترسره شوې او د عامه پوهاوي د پروګرامونو له لارې تر ډېره بریده د یاد عمل د ترسره کېدو څخه مخنیوی شوی دی .

۸- هغه فعالیتونو ته چه د ژوند پر چاپیریال باندې په یو ډول تاثیر لرونکي دي او د چاپیریال ساتنې د معیارونو مطابق خپلې چارې مخ ته وړې جوازونه ورکړل شوي چې لدې جملې څخه (١٦) بابه نانوایانو ، (۴) بابه رستورانتونو او (۴) بابه د تیلو او ګازو پمپ استیشنونو ته د چاپیریال ساتنې جوازونه ورکړل شویدي .

۹- د لغمان ولایت په کچه (۷۰) بابه نانوایان ، (۵۰) بابه رستورانتونه ، (۴) بابه کلچه پزی ، (٦٠) بابه حمامونه ، (١٦٠) بابه قصابی ، (١٢) بابه د کلالی لوښو د جوړولوبټی ګانی ، (١٠) بابه موټرشوئی ګانی ، (٦) بابه قنادی شتون لری ، چه لدی جملی څخه (۴۵) بابه نانوایانې ، (١٢) بابه رستورانتونه ، (٢) بابه حمامونه د سون توکې ئی له لرګیو څخه ګازی سیستم ته بدل شوي او دا پروسه لاهم دوام لري.

ټولنیزوخدمتونو ته لاس رسی:

په لغمان ولایت کې ټولنیز خدمات شتون لری خو ولې قانع کوونکي ندي په هغه اندازه چې پکار دي شتون نلري لکه دوړکتونو په کافی اندازه شتون همدارنګه په لغمان ولایت کې دبې سرپرسته ماشومانو ، یتیمو ماشومانو دپاره روزنتون شتون نلري هغه خدمات چې باید داخلي بې ځایه شوو ته پکار دي نه شته هغه کوم خدمات چې ترسره کېږي هغه هم دموسساتو پر مټ تر سره کیږي که موسسات ترې لاس واخلي خدمات به په ټپه ودریږي. همداشان د دولت په بودیجه کې تراوسه دغریبو کورنیو دپاره دکوپون او نور ټولنیزو خدماتو شتون وجود نلري.

**کارموندنه:** لغمان ولایت یو داسې ولایت دی چې وګړي یې په تعلیم تر هر څه زیات متکي دي نو همدا علت دی چې دلغمان اوسیدونکي په زیاته کچه دپوهنتونو څخه فارغیږي خو لغمان ولایت یو خورا کوچنی ولایت دی چې دولتي تشکیل کم او موسسات پکې په کمه پیمانه شتون لري.

**دبیرته راستنیدونکو اودکورنیو بی ځایه شویوکسانولپاره دسرپناه اوکورشتوالی:** هغه مهاجرین چې دخارجي هیوادونو څخه راستانیږي د لغمان ولایت مهاجرینو ریاست ورته داسنادو په کتنه او دکمیټی په تاییدی چې مشري یې دلغمان ولایت مرستیال والي کوي یوه نمره ځمکه په اختیار کې ورکول کېږي. ددې هدف لپاره دوه ښارګوټې د لغمان ولایت مقام او د راستنیدونکو چارو ریاست لخوا مشخص شوي چې عبارت دي له عزیز خان کڅ د مهاجرینو شارګوټی چې د ۴۵۰۰ نمرو ظرفیت لري او دوهم یې د بابا صاحب ښارګوټي دی چې د ۶۵۰۰ نمرو ظرفیت لري.

د افغانستان د ژوند د حالت څرنګوالي د سروې په اساس چې په (۲۰۱۶-۲۰۱۷) کال کې ترسره شوې ذکر شوي چې په لغمان ولایت کې مهاجرینو ته د یو څخه تر پنځه فیصدو پوري خدامات وړاندي شوي.

(د افغانستان د ژوند د حالت څرنګوالي د سروې ۲۰۱۶-۲۰۱۷، د افغانستان د احصایې مرکزي اداره )

## طبیعي پیښوته رسیدنه:

څرنګه چې په لغمان ولایت کې دحوادثو لپاره د مبارزې د چمتوالي ریاست شتون لري او دهمدې ریاست تر چتر لاندې داضطرار کمېټه جوړه شوې یوه اندازه مرستې متضررینو سره کیږي خو کافي ندي. او له بله اړخه چون هر متضرر لومړی سروې شي چې نیک اقدام دی خو ولې دمرستو دویش پروسیجر یې مغلق کېږي هغه پدې معنی چې متصررین باید دکمیټی څخه تایید او دکمیټې دتایید وروسته ورته وویشل شي چې دا مغلق اداري پروسیجر ددې باعث ګرځي چې مرستې پروخت نه ترسره کېږي چې په دې کار سره متضرر درواني ستونزو سره مخ کېږي او دداسې پیښو دمتضرر لاس نیوی باید په همغه وخت کې وشي .

**د زیان منونکو ډلو خوندیتوب:** دکارټولنیزو چارو ریاست د زیان منونکو ډلو د خوندیتوب په برخه کې په دولتی بودیجه کې ځانګړې بودیجه نلري چې په خپل وخت او زمان سره متضررو کورنیو ته ځواب ووایی. باید ذکر شي چې دکارټولنیزو چارو ریاست داسې کورنۍ او ډلې په منظم شکل سره ثبتوي. کله چې دخوراک نړیوال سازمان موسسه یا کومه بله خیریه موسسه دمرستو دویش غړ وکړي نو بیا همدا مستحقی کورنی ورته معرفي کېږي.

## د نا دولتي موسسو فعالیتونه :

په لغمان ولایت کې صرف یوه موسسه دکاړیف په نوم د مرغداری دسکتورسره مرسته کوي چې سږ کال یې دوهم کال دی او دپنځه زره قطعی چرګانو څخه نیولې تر پنځوس زره چرګانو دروزنې فارمونه دلغمان په مرکز او ولسوالیو کې جوړوي.

په مجموع کې ۲۵ غیردولتی موسسات دلغمان په ولایت کې فعالیت لري چې ددوی فعالیتونه په کرنه ، صحت ، معارف ، ټولنیزخوندیتوب سکتور پوري اړوند دي .چې ددې جملې څخه ۷ موسسات دلغمان ولایت په امن ولسوالیو کې فعالیت کوي .

دلغمان ولایت د کرنې په سکتور کې ٦ موسسات ، دصحت په سکتورکې ۳ موسسات ، دپوهنی په سکتور کې ۷موسسات ، ټولنیز خوندیتوب په سکتور کې ۸ موسسات او دحکومتداری په سکتور کې یوه موسسه فعالیت لري چې ټول ۲۵ موسسات کېږي .

د کرنې په سکتور کې مرسته کونکې اداري دترويج په برخه کې ، عامی روغتيا په سکتور کې دصحی خدماتو وړاندی کول ، دټولنيز خونديتوب په سکتور کې دبشردوستانه خدماتو رسول ، دپوهنی په سکتور کې دسواد زده کړې په برخه کې او دحکومتدارۍ په برخه کې دحقوقي مساعدت په برخه کې په فعاليت بوخت دي .

دپنځه اخرو کلونو په موده کې د۹۴،۳مليونه افغانيو په ارزښت پروژې په بيلابيلو سکتورونو تکميل شوې او دځينو پروژو کارونه اوس هم روان دي .

په وروستيو پنځه کلونو کې د۲۲۵ په تعداد پروژې تکميل شوې چې د زراعت په سکتور کې ۱۵ پروژې، د معارف په سکتور کې ۴۰ د مصونيت په سکتور کې ۱۳۸ د صحت په سکتور کې ۱۱ پروژې د حکومتدارۍ په سکتور کې ۸ پروژې او دزيربنا په سکتور کې ۱۳ پروژې تکميل شوي دي .

دجنسيت په تفکيک په لغمان ولايت کې ۳۰ فيصده ښځينه او ۷۰ فيصده نارينه په دندو بوخت دی .

د لغمان په ولايت کې په مجموعي توګه ۱۱ ملي برنامې شتون لري چې په ټولو برخو کې پدې ولايت کې فعاليت جريان لري چې عبارت دي له ، د خصوصي سکتور پياوړتيا، اغيزمنه حکومتولي ، ولسي ترون ، ښاري پراختيا، د طبيعي منرالونو او سرچينو پراختيا، د بشري سرچينو پراختيا، هراړخيزه کرنيزه پراختيا،دښځو داقتصادي توان هڅول ،بشري سرچينوپراختيا ،عدلي سکتوراصلاحات او زيربنا او اړيکو څخه عبارت دي.

دا بايد ذکر شي چې د لغمان په ولايتي اداره کې تلپاتې پرمختيايی موخو ته درسيدلو لپاره ۱۷ اهداف او ۱۶۹ تارګيته او ۲۳۲ شاخصونه مشخص شوي .

# پنځم څپرکي

## دلغمان ولایت داقتصادی ودی دپاره پرمختیای طرحی

### هدف اساسی طرح :

اهداف عمده این طرح افزایش حاصلات ترکاری باب، ایجاد شغل برای باشندگان این ولایت از طریق زنجیره ارزش افزائی محصولات ترکاری باب، تامین نمودن مصونئیت غذائی در این ولایت، تشویق دهاقین به کشت سبزیجات رسیدن به اهداف استراتیژی افغانستان مولد و تعویض واردات میباشد.

تحلیل اقتصادی محصول:

ولایت لغمان یکی از ولایات بشمار می آید که کشت ترکاری باب (گلپی، زردک، شلغم، پالک، ملی سرخک، ملی سفید، کاهو، کرم، گندنه، کچالو، پیاز، رومی، بادرنگ، بادنجان سیاه، بامیه، سیر، مرچ، ترایی، فاصله، تربوز، بادرنگ کدو و گشنیز) به نسبت بودن هوای مناسب و آّب کافی بیشتر میباشد.

حاصلات ترکاری باب ذکر شده فی جریب در ولایت لغمان سالانه به ۸۷٫٤ تن، ساحه کشت ترکاری باب به ۳۹۹۲۵ جریب و مجموع تولیدات سالانه ترکاری باب سالانه به ۱۸۹٦۲٦ تن میرسد.

تحلیل وضعیت:

نقاط قوت:

- ولایت لغمان دارا موقعیت مناسب اقلیمی برای تولید ترکاری باب میباشد
- در تمام فصول سال ترکاری باب به مقدار کافی و هزینه کم در دسترس قرار دارد
- دهاقین بااستعداد

نقاط ضعف:

- پروسس ترکاری باب نیاز به ماشین آلات دارد که اکثر اوقات باید متوجه عوارض تخنیکی آن بود
- عدم دسترسی دهاقین به برق
- عدم آگاهی
- فرصت ها:
- موجودیت آب و هوای مناسب در ولایت لغمان که در صورت مدیریت درست ترکاری باب را به صورت وسیع افزایش خواهد داد
- نزدیک بودن ولایت لغمان به کابل که میتوان محصولات را به سادگی به ولایت کابل انتقال داد
- تقاضای بلند مارکیت برای ترکاری باب
- تهدیدات:
- سرماهای موسومی،
- رقابت کشور های همسایه در وقتیکه کچالو بصورت سرسام آور رفع حاصل گردیده و بمارکیت عرضه میگردد.

- آفات اضطراری مانند قنغوزک کچالو و کرم های مغز خوار.

نتایج متوقعه:

- بلند بردن مولدیت تولید کچالو
- تقویت زنجیره ارزش افزایی کچالو
- رشد اقتصادی
- ایجاد فرصت های کاری برای اهالی ولایت
- تامین مصونیت غذایی
- بلند بردن مولدیت تولید ترکاری باب
- تعویض واردات
- تشویق صادرات از طریق ایجاد سردخانه
- ایجاد سردخانه ها

نتیجه گیری :

محصولات ترکاری باب ولایت لغمان بنابر نبود سرد خانه ها در زمان رفع حاصل به کشور های همسایه صادر میگردد که در فصول که افغانستان به ترکاری نیاز دارد دوباره همان محصولات از کشور های همسایه به قیمت بسیار گزاف وارد افغانستان میگردد که در صورت تطبیق این طرح سردخانه عصری اعمار و تولیدات در داخل کشور ذخیره گردیده و در صورت نیاز به قیمت مناسب در دسترس مردم افغانستان قرار میگیر و ضمناً تطبیق این طرح مولدیت تولیدات ترکاری باب افزایش و فرصت های کاری برای مردم ایجاد میگردد.

# شپږم څپرکي

## دافغانستان د سولې او پرمختیا ملي چوکاټ اود لومړیتوبونو پر بنسټ ملي پروګرامونه (ANPDF/ NPPs)

## دافغانستان د سولې او پرمختیا دملي چوکاټ لید:

### د افغانستان جغرافیایي-اقتصادي (جیواکانومیک) موقعیت

افغانستان د یوه بډایه تاریخ او له قومي او ژبني اړخه د ګڼ شمیر وګړو په لرلو سره یوه تاریخي سیمه ده. زیات شمیر افغانان په جلا ټولنو کې په غرنیو سیمو په تپو او درو کې چې زموږ د جغرافیې ډیره برخه جوړوي خواره واره ژوند کوي. د ټوټه ټوټه کېدو پر لور رواني دغې طبیعي ګردلې څخه د خلاصون په موخه د ټرانسپورت اومخابراتي خدمتونو ته لاسرسي او د بازار د همغږی د آسانتیاوو راوستلو لپاره د زیربناوو د پراختیا په برخه کې د لویې کچې پانګونې اړتیا لیدل کېږي. د څلورو لسیزو جګړې هیواد وران کړی او په ملي کچې د زیربناوو او د فعالو ادارو لرونکي اغیزمن دولت جوړولو هڅې یې له لویو ستونزو سره مخامخ کړې دي.

د ودې او پرمختګ اوږد مهاله پرمخ وړونکي ـ کرهنه، کان کېندنه او سیمه ایز سوداګری- به هماغسې پاتې شي. ولې زړې لارې چارې باید په پرمختللو لارو باندې بدلې شي. که په اغیزمن ډول تري ګټه پورته شي، یادې عصري سرچینې به د لوړې کچې اقتصادي وده رامنځته کړي. د نړی په یوه ګڼ میشته او خوځنده سیمه کې د څلور لارې پر سر د افغانستان جیوستراتیژیک موقعیت په دې معنی ده چې له ګاونډیو سره پرمختګ په موخه اقتصادي همکاریو د چټکولو لپاره زموږ هیواد د غوره موقعیت لرونکي دی. همدارنګه افغانستان باید په عامه او خصوصي، کورنی او بهرنی دواړو برخو کې پانګونه چټکه کړي، او د وخت په تیریدو سره د ملي عوایدو پایداره سرچینې باید د پراختیایې مرستو ځای ناستې کړي.

په افغانستان کې د جګړو اوږد تاریخ او د پانګونې نشتون ته په کتو سره د پام وړ اقتصادي ودې او ټولنیز پرمختګ ته رسیدل به پوره وخت ته اړتیا ولري. د پرمختګ د امیدوارونکې کچې سره سره به افغانستان په (۱۰) راتلونکو کلونو کې د سویلي آسیاء سیمه ایز د سړي سر ناخالصو ملي عوایدو تر ټولو ټیټه کچه ولري. نسبي یا د منځنۍ کچې عاید ته د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې د پرمختګ تګلاره، په کلونو او یا هم په یوه لسیزه کې نه بلکې باید په څو لسیزو کې اندازه کړلای شي. ولې بیا هم ډیره اړینه ده ترڅو د یوه سوله ایز او سوکاله هیواد بنسټونه اوس کېښودل شي.

زموږ تګلاره هم باید پر واقعیتونو ولاړه وي. په لنډ وخت کې د ودې لرلید ناڅرګند دی. تر هغه پورې چې افغانستان کې سوله نه وي راغلې، په لویه کچه د نوې خصوصي پانګې اچونې احتمال کم بریښي. عامه پانګونه، چې په ځانګړې توګه د پراختیایي اقتصاد له کبله منځته راځي هغه به هم له ستونزو سره مخ شي. د پرمختګ شریکان به په افغانستان کې د پرمختګ مهم مالي ملاتړ کوونکي پاتې شي، خو د دوی ملاتړ به په راتلونکو ۵ څخه تر ۱۰ کلونو پورې کم شي. د وخت په تیریدو سره باید دوامداره کورنۍ سرچینې د نړیوال ملاتړ ځای ونیسي. په لنډه موده کې د یوې دوامداره بودیجې په لورې تګ او د افغانستان د اوږد مهاله پراختیا بنسټ ایښودل زموږ لپاره ترټولو مهم لومړیتوب دی.

## د ملي يوالي حکومت

**لومړني دوه کاله:** په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې د قدرت لیږد د افغانستان پر امنیتي، سیاسي، او اقتصادي اړخونو باندې د پام وړ اغیز وکړ. کله چې د ملي یوالي نوي حکومت واک تر لاسه کړ یواځې له یوه بحران سره نه بلکې له دریو بحرانونو سره مخ شو، تروریستانو او مخالفو وسله والو ډلو د نړیوالو ځواکونو د شمیر په کمیدو سره خپلې حملې زیاتې کړې، اقتصاد د کړکیچ خواته لاړ، او له سیالیو ډکو ټاکنو د ملي رهبرۍ پاملرنه ځانته واړوله.

نوي حکومت دا ومنله چې په اقتصاد کې بنسټیزې ستونزې تر هغه ډیرې ژورې دي چې په لومړیو کې یې اټکل شوی وو. د حکومتي کارکونکو د ګومارنې سیاسي کول د حکومت د اساسي دندو لکه پر بانکونو څارنې، عامه تدارکاتو، دفاعي اوملکي خدمتونو، قضایي او د قانون پلي کوونکي ادارو د داخلي کشالې او پراخه اداري فساد سبب ګرځیدلي. امنیت او پراختیا دواړه په خواشونکې توګه څو ټوټې شوي وو: په حقیقت کې د دې پرځای چې په څرګنده توګه ټاکلې موخې د منسجمو ملي لومړیتوبونو پربنسټ جوړ او پلې شي، د بودجې د باندې او بودجې د ننه پروژو له مجموعې څخه زیات بل څه نه وو پاتې.

حکومت د خپلې دورې لومړی کال په مهمو چارو کې د اساسي پرمختګونو په راوستلو تیر کړ.عامه تدارکات د اصلاحاتو د راوستلو په موخه مرکزي شول. له ملي لومړیتوبونو سره د بودجې بهیر د همغږۍ په موخه د عامه مالي مدیریت په برخه کې د اصلاحاتو طرحه جوړه شوه.

یو له بله سره تړلې څلور ننګونې- جګړه، اداري فساد، جنایت او بیکاري، د حکومت د اصلاحاتو د پروګرام په مخ کې مهمې آزموینې دي. په داسې حال کې چې د امنیتي خنډونو لرې کول سیاسي خبرو اترو او نظامي بریا ته اړتیا لري همدارنګه د عامه باور فضا چې د حکومت له خوا د ښه کیفیت لرونکو مساوي خدمتونو په وړاندې کولو سره رامنځته کېږي په دغه ستونزمنو شرایطو کې د حکومت د ملاتړ سبب ګرځي. خو د کاري زمینې د کچې له لوړولو پرته به افغانان د مخدره توکو ناقانونه تولید، له هیواد نه بهر مهاجرت، او د تاوتریخوالي له جرمي شبکو سره یوځای کېدو په څیر خواشینونکو کړنو لاس پورې کړي.

## سیاسي او امنیتي لرلید:

د سولې تمه لرل د دوه ګوني بلا په څیر ده، چې د پرمختګ پر ټولو لرلیدونو باندې سیوری اچوي. موږ د ملي کمپاین یو پنځه کلن پلان جوړ کړی دی، تر څو زموږ د امنیتي ځواکونو همغږۍ او اغیزمنتیا زیاته کړي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو او پولیسو د ظرفیتونو دوامداره پرمختګ نه یواځې له وسله والو یاغیانو څخه د هیواد په ساتنه کې ډیر اړین دی، بلکې د غصب، انسان تښتونې او ناقانونه نیولو په څیر جرمونو په راکمولو کې چې سوداګریزې پانګونې ته یو ستر خنډ جوړوي هم خورا ارزښت لري. ځمکنیو ماینونو او له جګړو پاتې چاودیدونکو توکو هم د افغانستان ملکي وګړو ته لوی ګواښ رامنځته کړی او د پراختیایي فعالیتونو مخنیوی کوي. هره میاشت په منځنۍ توګه ۱۰۰ افغانان د ځمکنیو ماینونو او له جګړو پاتې چاودیدونکو توکو قرباني ګرځي. دغه طرحه پر دریو برخو تمرکز لري: پخلاینه، امنیت، او ثبات. موږ د لوړې سطحې نظامي رهبرۍ کې بدلون راوستی او د افسرانو روزنه مو مسلکي کړې ده. موږ د مهمو اساسي ملاتړ کوونکو دندو لکه، تدارکاتو، مالي مدیریت، او پلټنو په برخو کې ملکي څارنه رامنځته کړې، چې دغه څارنه به زموږ د ځواکونو له خوا د مناسبو تجهیزاتو، تغذیې، او مدیریت ترلاسه کول ډاډمن کړي. موږ د اغیزمنتیا راوستلو پر وړاندې

داخلي ګواښونو د له منځه وړلو کوم چې د اداري فساد له کبله منځته راغلی د سختو ګامونو پورته کول په پام کې نیولي دي.

د امنیتي سکتور لپاره د مرستندویه هیوادونو پر مرستو باندې د اتکا را کمولو په برخه کې زموږ ژمنه، له کورنیو سرچینو څخه په دوامداره توګه په زیاتې ګټې پورته کوني، د قانون او نظم د ملاتړ صندوق (LOTFA) او د امنیتي مسئولیتونو د لیږد قوماندانی( CSTC-A ) صندوقونو له سرچینو څخه په ګټه پورته کولو کې د کمښت راوړلو ته اړتیا لري.که د امنیتي سکټور لګښتې په کال کې د۵ ملیارده امریکایي ډالرو شاوخوا پر ځای ثابت پاتې شي، د کمښت دغه لاره به ډېره ستونزمنه وي ترڅو خپلې موخې ته ورسیږو. سره له دې، د یادو ژمنو تر لاسه کولو لپاره موږ د کورنیو عوایدو په راټولونه کې د پام وړ ښه والی اوله اداري فساد، مالي صندوقونو څخه د ناوړه ګټې پورته کولو څخه مخنیوی او په امنیتي سکټور کې د لګښتونو د څارنې کلکو میکانیزمونو له مخې د اغیزمنتیا لوړولو ته ژمن یو.

## اقتصادي لرلید:

د افغانستان تولیز اقتصادي لید زموږ پرځان بسیاینې تګلارې زمینه برابروي. نړیوال مالي صندوق (IMF) او نورو اقتصادي اټکلونکو ادارو په ټولیزه توګه نړیواله وده ورو اټکل کړې ده، چې د صادراتو او پانګونې د جذب په برخه کې د افغانستان پر وړتیا باندې اغیزه لري. خو د تیرو دریو کلونو په ترڅ کې مخ پرشا وده اوس دریدلې ده، که پیاوړي او اغیزمن کورني اصلاحات پلي شي نو ښایي چې د غښتلي مګر منځنۍ ودې خوا ته د بیرته را ګرځیدلو اټکل وکړو. افغانستان په لږه کچه پوروړی دی، او د لویو بهرنیو اسعارو ډیری زیرمی، او افغانیو لپاره د تبادلې د نرخ اغیزمن مدیریت لري. چې دا کار د پراختیا له پلوه د لویو اقتصادي کړنلارو بنسټ رامنځته کوی.

خو په مرستو کې چټک کمښت او همدارنګه د عوایدو را ټولولو په برخه کې کمزوری فعالیت یا د عامه مالي چارو ناسم مدیریت د بودجې د زیانمنونکو کسرونو او اقتصادې ودې د لمنځه تلو سبب ګرځیدلی.

## ۱. دخصوصي سکټور د پراختیا پروګرام

د خصوصي سکټور لپاره د مساعد چاپیریال رامنځته کول زموږ د تګلارې یوه بله ستنه جوړوي. سوله، د پانګونې لپاره غوره چاپیریال، او د باور وړ زیربیناوې د هغه خصوصي پانګې د جذب ظرفیت لري کوم چې له هیواد څخه خلیجي او نورو هیوادونه ته لیږدول کېږي.موږ به بیروکراسي را کمه کړو، د ملکېتونو ځانګېرنې به روښانه کړو، د صادراتو لپاره به آسانتیاوې برابرې کړو، د باور وړ بریښنا ترلاسه کولو ته به زمینه برابره کړو، ټرانسپورت ته لاسرسي کې به آسانتیاوې راولو، او د متشبثینو او سوداګرو شخصي خوندیتوب به تضمین کړو.

په اوسني وخت کې د نظامي وارداتو څخه بغیر افغانستان د خپلو صادراتو لس ځله ډیر واردات لري. دغه نا انډولتیا د لوی شمیر هغو تولیداتو په شمول ده چې که چیرې غوره زیربیناوې او د پانګونې غوره چاپیریال رامنځته شي د هیواد په دننه کې یې د تولید امکان شتون لري. منځني او واړه سوداګریز شرکتونه د افغان اقتصاد د ماشین د جوړولو او د ملیونونو کاري زمینو رامنځته کولو ظرفیت لري.پر منځنیو او وړو سوداګریو راڅرخیدونکې زموږ پالیسی به د سیمه ایزې غوښتنې ځواب ویلو، په هغو برخو کې چې افغانستان نسبي غوره والی ولري په دغو برخو کې د وارداتو ځای ناستو توکو پراختیا ورکولو، پورونو ته د لاسرسي او د بیروکراسي له کبله د رامنځته شویو خنډونو په لرې کولو سره د وارداتو ملاتړ ته پاملرنه وکړي.

هره هڅه چې موږ د خصوصي سکټور د ودې او دندو رامنځته کولو لپاره کوو، ټول يې پانګې ته اړتيا نه لري. ډيری وخت حکومت له خپل قانوني او د قانون جوړولو ځواک څخه د پانګونې د هڅولو، د خطر او ابهام کمولو، او د پانګونې لپاره سرچينو ته د لاري پرانستلو لپاره ګټه پورته کولای شي. افغانستان د ځينو داسې بيلګو شاهد دی چې د قوانينو بدلون د پانګونې د زياتوالي او په خدمتونو کې ښه والي سبب شوی. د بيلګې په ډول، د مخابراتو په برخه کې د حيرانتيا وړ پرمختګ چې خصوصي مخابراتي شبکو ته د جواز ورکولو له کبله رامنځته شو. د انرژۍ د مقرراتو په برخه کې اصلاحات به ډير ژر د انرژۍ خپلواک توليدونکي رامنځته کړي چې په ملي شبکو باندې به برېښنا پلوري. د حکومت مقرراتي پروسه ډيری وخت د منلو وړ اصول لري، ليکن د هغو پلي کول بيلا بيلې مرحلې لري چې د بډو او کم ظرفيتی سبب ګرځي. موږ په سوداګريزو پروسو کې اصلاحاتو ته ژمن يو او په لويو اړونده وزارتونو کې اداري او د خدمتونو وړاندې کولو پروسو د ساده کولو پلان لرو. ياد کره نوښتونه يو واحد مرکز له ځان سره لري چې د خدمتونو خواره واره وړاندې کول به يوه ځانګړي موقعيت ته راولي ترڅو د وړانديزونو په کچې سره د ثبتولو پروسه ګړندی شي. يادې هڅې به له الکترونيکي اداري اړوند اصلاحاتو سره يوځای شي چې موخه يې د اغيزمنتيا ډيرول دي.

د مقرراتو سمون د بيوزلو له خوا د پانګونې سبب هم ګرځيدلای شي. موږ اوس مهال د ښاري بيوزلۍ هڅوو، ترڅو پخپلو کورونو او وړو سوداګريو کې د ځمکو د تصديق لپاره د ملي پروګرام له لارې پانګونه وکړي چې په ټولو لويو او وړو ښارونو کې د اجارې ضمانت وړاندې کېږي. ګرځنده تليفون له لارې د بانکي خدماتو پرانستل او الکترونيکې تادياتو ته اجازه ورکول به په راتلونکي کې د بيوزلو او يا ليرې شويو ټولنو لپاره چې نورو مالي سيستمونو ته لاسرسی نلري د راکړې ورکړې او ګټې لګښتونه را کم کړي.

خصوصي سکټور د ودې له لارې د کاري فرصتونه رامنځته کول

د خصوصي سکټور د ودې پراخولو لپاره زموږ موخې په لاندې ډول دي:

- د اغيزمنو او د سيالۍ ډک بازارونو رامنځته کول.
- د منځنيو او وړو سوداګريو، په ځانګړې ډول د صادراتو اړوند افغاني شرکتونو غښتلی کول.
- د کورني او بهرنی پانګونې هڅول
- د خصوصي سکټور لپاره د يو توانمنونکي چاپيريال رامنځته کولو لپاره زموږ وسايل په لاندې ډول دي :
- د (ISO) له معيارونو سره دخدمتونو او توليداتو برابرولو په برخه کې له افغان شرکتونو سره مرسته کول،
- د سوداګرۍ د ملاتړ خدمتونه د لاسرسي وړ او اړوند ګرځول.
- د ګاونډيو هيوادونو سره د ګمرکونو ترمنځ د تړونونو پراخول.
- په افغان سفارتونو کې د سوداګريزو اتشو ډيرول.
- د دوه اړخيزو او څو اړخيزو تړونونو پراخول.
- د (TIR) کنوانسيون مطابق بل هيواد ته د بار وړونکو موټرو ننوتلو تر اجازې لاندې د توکو پر نړيوال ليږد باندې د ګمرکونو کنوانسيون پلي کول او همدارنګه د ترانسپورت او لوجستيکي سکټور پياوړې کول.
- کورنيو تدارکاتو او د وارداتو قانونی ځای نيوونکو توکو ته پراختيا ورکول.
- د خصوصي سکټور د سروې په وسايلو کې د ښه والي راوستل او معياري کول.
- د صنعتي پارکونو او ځانګړو اقتصادي زونونو ملاتړ او جوړول.

- د غیر ضروري شرایطو د لرې کولو په موخه د جواز پر شرایطو بیاکتنه.
- پانګوالو ته د مالیاتي هڅونو او د پانګونو او شتمنیو حقوقي خوندیتوب برابرول.
- د یوې داسې واحدې اداري رامنځته کول چې د سوداګرۍ منسجم الکترونیکي اداري خدمتونه په کابل او اوه نورو مرکزونو کې وړاندې کړي لکه (ثبت، جواز ورکول، د ګمرکونو مالیات).

## ۲. د ولسي تړون پروګرام

افغانستان روغتیا او تعلیم ته د لاسرسی پراختیا برخې ته پاملرنه کړې ده. یاده پاملرنه به، تر ۲۰۲۰ زیږدیز کال پورې د لومړنیو روغتیایي او تعلیمي خدمتونو لپاره مالي تمویل په خیر چې وار له مخکې ټاکل شوې، دوام ومومي.موږ د خپلې اوسنی تګلارې لپاره د دریو بدلونونو وړاندوینه کړې ده. لومړی، د روغتیا او تعلیم برخه چې نه یواځې د پوښښ پراخولو ته پاملرنه وکړې باید چې د کیفیت لوړولو ته یې هم پاملرنه وکړي. دوهم، اوسني مالي بیلګې، په ځانګړې ډول د روغتیایي خدمتونو لپاره ثابتې نه دي دواړه وزارتونه د اصلاحاتو پلانونه ترتیبوي ترڅو د روغتیایي خدمتونو په لمړنی بکسه کې د غوره والي او په لرې پرتو سیمو کې د سواد د کچې لوړولو په شمول یاد خنډونه له منځه یوسي. دریم، د تعلیم د نصاب او د افغانستان د کار بازار د غوښتنو تر منځ تقاطع دا په ګوته کوي چې نیږدې دوه پر دریمه برخه د پوهنتون نوي فارغین بیکاره دي.

د ولسي تړون د ملي لومړیتوب پروګرام به د تعلیم، روغتیا، لمړنی کلیوالي زیربیناوو، او کرهنیزو خدمتونو په برخه کې د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره میکانیزمونو ته پراختیا ورکړي. د ټولنو د پراختیا شوراء څخه په ټیټه کچه د حکومتولۍ او پراختیایي فعالیتونو لپاره د ننوتو د یوې نقطې په ډول ګټه پورته کولو سره د منشور موخه د بیوزلۍ را کمول او د ناامنۍ او تاوتریخوالي له منځه وړل دي. د وګړو منشور زموږ د پراختیایي لرلید کیلي ده. د کلیوالو ټولنو، ولسوالیو، ولایتونو، او مرکزي سطحې یو له بله سره نښلول د حکومت له بشپړو هڅو څخه دي، ترڅو ټولیز پرمختګ ته پراختیا ورکړي او د تیر وخت په څیر د پراختیا څو ټوټې شویو تګلارو څخه د مخنیوي په برخه کې مرسته وکړي. یاد تړون به ټولنې د پراختیا د پروسې په مرکز کې راولي، او دوی ته به د خدمتونو د وړاندې کولو څخه د څارنې او د پراختیایي لومړیتوبونو د ټاکلو لپاره وسایل او میکانیزمونه په اختیار کې ورکړي.ټولنې به د ګټه ترلاسه کوونکو په پیژندنه، د غوښتنې په رامنځته کېدو، او همدارنګه د پرمخ وړلو او ساتنه کې مهم رول ولوبوي. د وګړو منشور به د ټولنو د پراختیایي مرکزونو (CDCs) ظرفیت جوړونه وکړي او له پورته نه ښکته د حساب ورکونې اړین ګامونه پورته کړي ترڅو یقیني شي چې زیانمن کېدونکې ډلې لکه ښځې، راستنیدونکي کډوال، په هیواد کې دننه بې ځایه شوي خلک، کونډې، او معلولین د پراختیا په پروسه کې شامل شوي دي.

ولسی تړون به د خدمتونو لړ تر لړ معیارونه وړاندې کړي

تر ۲۰۲۶ زیږدیز کال پورې به دولت د ټولو خلکو لپاره د خدمتونو د اساسي خدماتو وړاندې کول تضمین کړي. په راتلونکو څلورو کلونو کې به یاد پروګرام ۱۲،۰۰۰ ټولنو له لارې په ټولو ۳۴ ولایتونو کې لاندې خدمتونه وړاندې کړي:

- په ملي سطحه پاکو اوبو ته لاسرسی، د ۲۰،۰۰۰ شاوخوا د اوبو د ترلاسه کولو ځایونو رامنځته کول
- په دولتی ښوونځیو کې د غوره کیفیت تعلیم، د ښوونکو له حاضرۍ او د زده کوونکو لپاره د زده کړې ساعتونه څخه ډاډمن کېدل

- د روغتیایي خدمتونو لومړنی بسته، په ټولو کلنیکونو کې ټاکل شویو خدمتونو، د عملیاتو حداقل ساعتونو، او د کار ګمارنې لمړنی غوښتنو په شمول د ټولنې تر مشرۍ لاندې د لومړیتوبونو د ټاکلو او د توپیر د څیړلو پر بنسټ، ټولنې به له لاندې برخو څخه لږ تر لږه یوه یې ولري:
- په لږ پرتو سیمو کې له نویو کېدونکو سرچینو څخه د لومړنی کچې بریښنا تولید،چې د انرژۍ د سیستم له لارې د رسیدو وړ نه وي.
- مارکېټ ته د کلیو د لاسرسۍ د زیاتوالي په موخه د داسې سړکونو جوړول چې سر و کال پرانستې وي.
- په ټیټه کچه د اوبو لګولو او د فاضله اوبو د وتلو زیربیناوې.

## ۳. د اغیزمنې حکومتولۍ پروګرام

په افغانستان کې امنیت، بې ثباتي او لږ پرمختګ له یو بل سره نه بیلیدونکې تړاو لري. د دولت مشروعیت او اغیزمنتیا رامنځته کول پخپله یوه مهمه موخه ده. یو مشروع او ثبات لرونکې دولت ته دغه پاملرنه په لومړي ګام کې د سولې په خبرو کښې پرمختګ، د سیاسي اجماع رامنځته کول، او دامنیت ټینګښت دي. د مالکیت د حقوقو روښتیا، په ځانګړي ډول د ځمکو لپاره چې د نفوسو د لوی شمیر لپاره یوه مهمه فزیکي شتمني ده، یوه مهمه موضوع ګڼل کېږي.د افغانستان د ځمکو خپلواکه اداره (اراضي) د ملي اداري د قبالي پروګرام په رامنځته کولو سره د یادې ستونزې د له منځه وړلو لپاره کار کوي.د لومړنیو خدمتونو لکه روغتیا او تعلیم په برخو کې، په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو لپاره د لاس ته راوړنو خوندي ساتلو ته اړتیا لري ترڅو موږ د خلکو خوندیتوب، پخپل ټاکل شوي استازي باندې باور لرل او د خپلو کورنیو لپاره د کافي عوایدو ترلاسه کول، تضمین کړو.

### الف) د عامه سکټور سمون

د عامه سکټور بنسټیز اصلاحات به د اوسنی اداري د کاري دورې تر پایه پورې دوام ومومي. افغانستان د هغو پالیسیو او مقرراتوله بې کچې زیاتوالي څخه اغیزمن دی کوم چې په سمه توګه نه دي پلي شوي. د پلي کولو په برخه کې د اغیزمنتیا راوستلو لپاره موږ باید د مدیریت په سیستمونو کښې اصلاحات، څارنې او مکافات راولو. په راتلونکو دریو کلونو کې به په لوړو عوایدو او لګښتونو لرونکو وزارتونو کې د فعالیتونو د مدیریت اصلاحات راوستل شي. د ملکي خدمتونو او عامه اداري اصلاحات  د لوړ رتبه مدیرانو د وړتیا د لوړولو لپاره پلي شوي دي.

### د یوې اغیزمنې او ځواب ویونکې ملکي اداري رامنځته کول

افغانستان باید یوه داسې د ملکي خدمتونو اداره رامنځته کړي چې د هیواد د ملي پرمختیایي غوښتنو ځواب ویونکې وي او د افغان نارینه او ښځینه  مساوي ګډون بهیر ته وده ورکړي. خو بیا هم یادې موخې ته د رسیدو لپاره موږ باید یو ژور سیاسي میراث له منځه یوسو، چې د اداري فساد او غیر مشروع نفوذ له خوا خپور شوی، کوم چې د ملکي خدمتونو په بستونو کښې د لوی شمیر غیر مسلکي کار کوونکو ګمارلو سبب شوی. اصلاحات باید د هغه ناسالمو کړنو ریښې له منځه یوسي چې ډیرې ژورې شوي او غښتلي سیاسي څیرې یې قانع کړي دي. د ملکي خدمتونو مسلکي اداري رامنځته کول چې له لګښت څخه یې د ارزښت کچه ډیره وي د ټولو افغانانو په ګټه ده.

پورته یادې شوې موخې به د لاندې فعالیتونو له لارې تر لاسه شي:

- د نویو قوانینو په تصویب او د اوسنیو قوانینو په بیا کتنې سره چې په هغه کې د ملکي خدمتونو قانون هم شامل دی،د ملکي خدمتونو په برخه کې د اصلاحاتو راوستل.
- د مسلکېتوب رامنځته کول، ساتل او پیاوړي کول.
- د فعالیتونو پر بنسټ د ولاړ مدیریت پراخول.
- د ولسي ترون له لارې د خدمتونو د وړاندې کولو اغیزمنتوب زیاتول.
- د حساب ورکونې او روښتیا پیاوړي کول، او

- د داسې لاربنود جوړول چې غوره خدمات وستايي او د فعاليت کموالی تنظيم کړي.

## ب) د اداري فساد د ريښو ايستل:

موږ په بشپړ هوډ سره د اداري فساد له منځه وړلو ته ژمن يو. د اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د ولسمشر عملي پلان، ستري محکمې او لويې څارنوالۍ کې د اداري فساد مخنيوی له قوي پروګرام او مناسبې رهبرۍ سره يو ځای شوی چې د معافيت کلتور به له منځه يوسي او مفسدين  به عدالت ته راکاږي. په داسې حال کې چې د امنيتي ستونزو له منځه وړل به سياسي خبرو اترو او پوځي بريالیتوب ته اړتيا ولري، زموږ د خلکو باور لوړول په دې توګه چې موږ کولای شو د ښه کېفيت لرونکي خدمتونو په بې پرې ډول وړاندې کړو، د عامه ملاتړ پر کچه اغيزه وکړي.

د اداري فساد پر وړاندې د حکومت د پلان عمده ټکي:

په افغانستان کې له بنسټيز اداري فساد سره د مبارزې لپاره د امنيت، ادارې،اقتصاد، او حقوقي ادارو په برخو کې سترو اصلاحاتو ته اړتيا شته. هغه عمده اصلاحات چې مخکې له مخکې پر لاره اچول شوي دي په لاندې ډول دي:

- د عامه تدارکاتو بيا جوړونه، چې د ټولو لګښتونو ۲۰ سلنه جوړوي.
- د قانون د حاکميت او اداري فساد پر ضد د مبارزې په برخو کې د عالي شورا رامنځته کول.
- د وزارت په سطحه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د پلانونو ترتيبول چې پيل يې د ماليې، معدنونو او پطروليم، سوداګرۍ او صنايعو، مخابراتو او معلوماتي ټيکنالوژۍ او ټرانسپورټ له وزارتونو څخه کېږي.
- د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې عدلي مرکزڅخه ځانګړي ملاتړ تر څو د لوړې کچې اداري فساد وڅيړي او تر قانوني څار لاندې يې ونيسي.
- د قاضيانو او څارنوالانو د شامیلیدو او بيا ځلي ازموينو په برخو کې د شرطونو اړين کول.
- د ۳۴ ولايتونو د قاضيانو تعويض او تبديل.
- د کمپيوټري تادياتو او الکترونيکي پلورنې څخه په ګټه پورته کولو کې د زياتوالی راوستل.

## ج) د سيمه ايزې حکومتولۍ پياوړتيا

کله چې دولت کمزوری وي، خلک د خونديتوب له نور ډولونو لکه غيرقانوني ملاتړ، وسله والې مليشې او وسله والو شبکو څخه ګټه پورته کوي. موږ بايد په ټولو ولايتونو او ولسواليو کې فيزيکي او اداري شتون رامنځته کړو ترڅو عامه خونديتوب او د امنيتي، قانوني او ټولنيزو خدمتونو وړاندې کوونکو ادارو له نظارت څخه ډاډمن شو. د سيمه ايز حکومتونو له لارې د لګښتونو د کچې له زياتوالي او تر ۲۰۱۹ زيږديز کال پورې د ښاروالانو د ټاکنو په شمول د ټاکنو د پروسې له اصلاح سره يوځای دپانګونې پروګرام چې په ولسواليو او ولاياتو کې د حکومت دايمي شتون ته پراختيا ورکړي چې دا به  د ځايي حکومتولۍ د پياوړتيا لامل وګرځي.

د ځايي حکومتولۍ د سيستم د پياوړيتوب او ملاتړ لپاره زموږ هڅې په لاندې ډول دي:

- د حکومت د ټولو کچو ترمنځ له ځايي ټولنې نيولې تر ملي کچې پورې د اړيکو ټينګول.
- د بودجې ترتيبولو، پلان جوړولو او پلې کولو په برخو کې د ملاتړ او همغږۍ زياتول.
- د عوايدو ټولولو او خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې د ښاروالیو د وړتيا لوړول.

- د ولسوالیو په سطحه د حکومت د شتون زیاتول، او
- د والیانو او ولسوالانو د ظرفیت لوړول.

## د) نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه

افغانستان کښې د نشه يې توکو شته صنعت، د امنيت او پرمختګ په لاره پروت يو ستر خنډ دی. د نشه يي توکو ناقانونه سوداګري د بلواګرۍ د زیاتیدو سبب ګرځي او د دولت مشروعيت ته زيان رسوي. د نشه يي توکو له مصرف کوونکو هيوادونو څخه دوامداره غوښتنه او د ترانزيت په لار کې د پرتو هيوادونه له خوا د نشه يي توکو د ليږد د مخې نيولو اړوند ناکافي ګامونه، زموږ د نشه يي توکو پر وړاندي د مبارزې د تګلارې اغيزمنتيا محدوده کړې ده. د ۲۰۱۵ زيږديز کال را په دی خوا موږ د نشه يي توکو ملي کاري پلان پلي کول پيل کړي چې د قانون پلي کول، تعليم او عامه روغتيا يوه مسير ته برابروي. د دې خبرې په پوهيدلو چې بريالي اصلاحات اوږد مهاله ژمنو ته اړتيا لري، په راتلونکو پنځو کلونو کې به موږ په داسې حال کې کروند ګرو ته د بديل معيشت برابرول روان وساتو چې د پيسو مينځلو او نشه يې توکو د قاچاق پر وړاندې به قانون په جدي توګه پلی شي.

## ۴. دعدلي سکټور د رغولوپروګرام

زموږ خلک باید دا احساس وکړي چې دولت د قانون په بې طرفه پلي کولو سره عدالت رامنځته کوي. افغانستان باید د قانون د ونډې د يقيني کولو لپاره بايد خپل سيستمونه له سره جوړ کړي، چې د هغه د نشتون له کبله به قراردادونه او د ملکيت حقوق خوندي نه وي او نه به شخړې د قضا او قانوني لارو حل شي. ستره محکمه او لويه څارنوالی دواړه د خپلو خدمتونو د مسلکي کولو او ټولو وګړو ته د حقوقي لاسرسي لپاره په لويه کچه داصلاحاتو پلان جوړوي.

## عدالت ته دټولو افغانانو لاسرسی:

افغانستان به يو عادلانه او منصفانه قضايی او د قانون د تنفيذ سيستم جوړکړي، چې د قواعدو او مقرراتو پر بنسټ عدالت وساتي او د نړيوالو معيارونو سره به سمون ولري. د قانون د پلي کولو سيستم به دا باوري کړي چې د قانون پر وړاندې بې له کوم تبعيضه ټول افغانان مساوي دي.

ياده موضوع به د لاندې ټکو څخه څرګنده شي:

- د هر افغان نر او ښځې لپاره عدالت ته د لاسرسي د حق تضمينول.
- د يوه روڼ او بې پرې حقوقي سيستم رامنځته کول چې د اساسي قانون او بشري حقونو نړيوالو کنوانسيونونو دقيق ډول په نظر کې نيولو سره رامنځته شوی وي.
- په هره کچه د قانون د پلي کوونکو پرسونل مسلکي ظرفيت لوړول.
- د عدلي او قانون پلي کوونکو ادارو کې د ښځو د شمير زياتول.
- د عدلي او قانون پلي کوونکو ادارو ترمنځ د همغږی زياتول.
- له سترې محکمې څخه د اراضي خپلواکې ادارې ته د ځمکو د قضاياو د څيړلو د صلاحيت تفويض
- د قضايي ادارو په بيا جوړښت او د قضيو بريښنايي مديريت سيستم په فعالولو سره د ځواب ورکونې او اغيزمنتيا لوړول.
- د بشري حقونو د ساتنې او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي مخنيوي په برخو کې د جدي ګامونو پورته کول.

## ۵. دکرنې د پراختیا هر اړخیز پروګرام

د افغانستان ناخالص ملي تولید د کرهنیز سکټور له فعالیتونو سره سم حرکت کوي، کوم چې د ۴۰ سلنې نفوس لپاره د کار زمینه رامنځته کوي او زموږ د اوسنیو صادراتو د پام وړ برخه جوړوي. په طبیعي ډول یو بې ثباته سکټور، لکه د افغان کرهڼې د ودې مخه، د اوبو د سرچینو د پراختیا په برخه کې د لږې پانګونې، د ټيټ کېفیت لرونکو توکو لکه تخمونه او سرې، د طبیعي سرچنیو له منځه تلو، او د کورنې او صادراتي بازارموندنې لپاره کمزوري سیسټم له کبله نیول شوې ده. اقلیم د بدلون له کبله اوس درې اونۍ مخکې واوره اوبه کېږي، چې د پسرلي په لومړیو کې د ځمکې پر سر به د ډیرو اوبو د تولیدو سبب شي، او د سیلابونو د راوتلو او ځمکو د ښویدو خطر زیاتوي،او همدارنګه د وچ دوبي په میاشتو کې د کافي اوبو د نشتون ستونزه رامنځته کوي. اوسنۍ اورښت د ډیر باران اوریدلو په ځیر ښکاري، نه د واورې، کوم چې د ډیرو اوبو دساتلو آسانتیاوو او د سیلابونو د مخنیوي پر وړاندې د اړینو ګامونو پورته کولو اړتیا پیدا کوي.

د کرهنیزو تولیداتو د کچې لوړول به د اوبو لګولو په سرچینو، د اوبو په مدیریت، د نیالګي کېنولو پرمختللي موادو، او غوره لارو چارو په برخه کې د پام وړ خو سکټوریزه پانګونو ته اړتیا لري. د ارزښت زیاتولو کړۍ ته باید پراختیا ورکړل شي ترڅو پانګوالو ته د پانګونې لپاره ډیره انګیزه ورکړي. د غنمو او غلو زیات تولید، او کمو شویو رمو ته پراختیا ورکول به د هیواد لپاره د خوراکي توکو خوندیتوب تضمین کړي. پرمختللې ښاري او کلیوالي اړیکې چې کرهنیزو محصولاتو ته د پیرودلو، پروسس او ساتلو توکي تیاروي، د ښاري پرمختګ او د کلیو د روښانه پرمختګ سبب شي.

عامه پانګونه به په لومړیو کې کرهنیزو سکټورونو ته پاملرنه وکړي کوم چې د اقتصادي ودې لوړ قابلیت لري. اصلاح شوي تخمونه، غوره کرهنیزه ټکنالوژۍ، او ډیرۍ سړخونې او د سړیدو آسانتیاوې به له کوچنیو سهم لرونکو سره د خوراکي توکو د خوندیتوب په لوړولو او د کورنې او صادراتي بازارونو لپاره د تولید له وروستۍ کچې څخه مثبتې کچې ته د خوځښت په برخه کې مرسته وکړي. یو اوږد مهاله ظرفیت شتون لري ترڅو افغانستان له واردونکي او کرهنیز هیواد څخه په کرهنیز صنعتي صادراتي هیواد بدل کړي. یادې موخې ته رسیدل د کرهنیز صنعت پرمختګ، د کېفیت د کنټرول ښه والی، د سړیدونکو آسانتیاوو پراختیا، او د غوره بسته بندی معرفي کولو ته اړتیا لري، تر څو پورې چې د ضایع کېدو او خرابیدو څخه مخنیوی وشي.

## د کاري زمینې رامنځته کول، د حاصلاتو زیاتول او کروندګرو لپاره د بازارونو پرانستل:

په راتلونکو پنځو کلونو کې به موږ:

- تر اوبو لاندې ځمکه له ۲،۲څخه ۲،۷ ملیون هکتارو ته لوړه کړو
- د غنمو تولید له ۴،۵ څخه ۵،۹ ملیون میټریک ټنو ته لوړ کړو .
- موږ به یادو موخو ته په لاندې ډول ورسیږو:
- د اوبو د اغیزمن مدیریت په برخه کې د پانګونی له لارې به د ۱۰۰۰ څخه ډیرو اوبولګولو کانالونه جوړولو، د اوبولګولو نوو شبکو ته پراختیا ورکولو، او د اوبو واړه زیرمتونونو جوړول.
- د غنمو د ملي پروګرام پلي کول، ترڅو د حاصلاتو کچه ۲۶٪ لوړه شي، د ۱۱۰،۰۰۰ هکتاره تر کښت لاندې ځمکې زیاتول، له حاصل اخستلو څخه وروسته په منځنی کچه د زیانونو راکمول، او د غنمو د زڼو د معیاري بازار رامنځته کول.

- د ثاروپو په مدیریت کې غوره والي راوستل، د (phytosanitary) د شمولیت معیار او د نړیوال سوداګریز سازمان له خوا منظورشویو تعرفو ته رسیدل ترڅو زموږ له ورو سوداګرو سره په هیواد کې د شته توکو د معادلو وارداتي سیالانو د سیالۍ مخه ونیسي.
- د بنوالی ظرفیت له ۱۸۰،۰۰۰ څخه ۲۳۰،۰۰۰ هکتارو ته لوړول، د ارزښتونو لوړولو په زنځیر(value-chains) کې له پانګونې څخه ملاتړ کول، د صادراتو د تصدیق سند د طرزالعملونو رامنځته کول، او د ښځو له خوا پرمخ وړونکو کرهنیزو سوداګریو څخه د ملاتړ زیاتول.
- د غلو د استراتیژیکي زیرمو بیا ودانول او د کروندګرو د ملاتړ لپاره د غلو د زیرمو د بورډ رامنځته کول.
- د ځنګلونو کرهنه او په ۶۰،۰۰۰ هکتارو کښې د ځنګلونو بیا ایښودنه ، چې له چاپیریال ساتنې او د کروندګرو لپاره د عوایدو له رامنځته کولو څخه ملاتړ کوي.
- د کرهنې وزارت د بیا جوړښت، تر څو یو غیر متمرکزه او کروندګرو ته ځانګړې شوې پاملرنې اداره رامنځته شي چې خصوصي پانګونه تنظیم کړي او وې هڅوي.

## ۷. دښاري پراختیا پروګرام

